# ادبي رنګینه

ادبي تحلیلونه او ادبي ټوټې

جمال ناصر اصولي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






# ادبي رنګينه

**ادبي تحليلونه او ادبي ټوټې**


ليکوال: **جمال ناصر اصولي**

چاپکال: **۱۳۹۹ل/ ۲۰۲۰ز**

خپرندوی: **جمال ناصر اصولي**

چاپشمېر: **۱۰۰۰ ټوکه**

ډيزاين: **سپين سهار**

چاپځی: **اسد دانش مطبعه- کابل/ ۰۷۸۸۰۴۲۸۲۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نيوليک


خپلې خبرې ........................................................ ٤
د جمال ناصر اصولي د ژوند په اړه ........................................ ٦
د رحمت شاه سايل د شاعرۍ حماسي اړخ.............................. ۱۱
لومړۍ مرکه ........................................................ ۱۱
له پرديو کليمو څخه د خپلې ژبې ساتل.................................. ۱۹
دويمه مرکه ........................................................ ۱۹
د تورې او قلم څښتن (خوشحال خان خټک) ........................... ۲۸
درېيمه مرکه ........................................................ ۲۸
د جمال ناصر اصولي شعر او ادبي فعاليتونه............................ ۳۷
څلورمه مرکه ........................................................ ۳۷
شاعري او ليکوالي يوه بېله نړۍ ده .................................... ٤۸
پينځمه مرکه ........................................................ ٤۸
شاعري ناکسبي هنر دی ............................................... ٦۲
د ادبي او هنري نثرونو بېلګې........................................... ۷۷
نوی کال او په خوست کې يې لمانځل!................................... ۷۸
اختر په لنډيو کې .................................................... ۸۱
دا کاروان به کله ښار ته ورسي؟ ....................................... ۸٤
خپسه.............................................................. ۸٦
افغانه جلکۍ ........................................................ ۸۸
درد ................................................................ ۹۰
د بې شرمو کلی...................................................... ۹۳
د هندارو ښار ....................................................... ۹۵
لنډ ژوندليک........................................................ ۹٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خپلې خبرې

پښتو يوه لرغونې ژبه ده، چې په سيمه او نړۍ کې ميليونونه خلک پرې ګړيږي. د دې ژبې د غوړېدا له پاره د فرضي کرښې دواړو غاړو ته هغسې کار نه دی شوی، لکه په نړۍ کې چې نورو برجسته ژبو ته روان دی. پښتنو د خپلې ژبې سره د تاريخ په اوږدو کې بې باکي کړې ده. که پښتون امپراتور پاتې شوی دی، پښتو يې رټلې ده، که پاچاهي يې تر لاسه کړې ده، پښتو يې له پامه غورځولې ده، که د دولت جيګپوړی يا ټيټ پوړی مامور شوی دی پښتو ته يې نه دا چې عزت نه دی ورکړی، پښتو يې بې عزته کړې ده. د ګوتې په شمار پښتانه پښتانه پاتې شوي دي، پښتو يې لمانځلې او ځلولې ده. د ژبې پرمختګ د ژبې په ويونکو پسې اړه لري، چې څومره ورته وفادار دي او څومره پرې زهيريږي. موږوال تر ډېره دا موضوع نه ده درک کړې او لکه هېواد، ژبه مو هم هيره کړې ده. په کار ده چې هر څوک په خپله برخه کې ژبې ته کار وکړي. سوداګر په خپلو توکو پښتو وليکي، مامور دفتري کارونه پښتو کړي، ښوونکی يا استاد په پښتو لکچر ورکړي، هر ډول کتابونه پښتو ته وژباړل شي، پښتو ووايي، وليکي او...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې کتاب خپرول هم د همدې بهير يوه وړه هڅه ده، تر څو په سمندر کې د يو څاڅکي خاوند زه هم اوسېدلی وم.

دغه آثر (ادبي رنګينې) زما د ادبي تحليلونو او ادبي نثرونو يو وړوکی غونډ دی. په ادبي تحليلونو کې زما د ادبي ژوند تر څنګ په نورو کلاسيکو او معاصرو شاعرانو سربېره، په پښتو ادب مو بحثونه کړي دي. د دې سره سره زما ځينې ادبي ټوټې او نثرونه هم په غېږ کې رانغاړي، کوښښ مې کړی دی، چې هغه څه په رسنيو کې يو وار اوربدل شوي او ليدل شوي دي، ورک نه شي، په کتابي بڼه ثبت او خوندي شي. هغه وينا چې د ژبو او ادبياتو په نړۍ بحث کوي، ادبي ارزښت لري بايد چې خوندي او وساتل شي.

موږ که په ګوګل کې د يو څيز په اړه په پښتو پلټنه کوو، ډېر په ندرت به مالومات ومومو، خو که بيا په نورو ژبو پلټنه وکړو اړين مالومات تر لاسه کولای شو، يا د کور د ننه کوم کتابتون ته ننوځو، ډېر کم به اړين پښتو کتابونه ترلاسه کړای شو. نو دلته پوهيږو، چې زموږ ژبه لرغونې، بډايه او د مختلفو ګړدودونو ډکه ژبه څومره خواره او ناکاره شوې ده. دا ناکاري په ژبه کې نه، په ويونکو کې ده.

هر څوک، په هر مسلک، په هر ډګر، هرچېرې چې ياست، يو څه وليکئ، وژباړئ، نبټ ته يې ورکړئ، خپاره يې کړئ، خو ويې ليکئ، ځکه ژبه د ادبياتو څخه وتلې خبرو ته هم اړتيا لري.

درنښت

جمال ناصر اصولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمال ناصر اصولي د ژوند په اړه

خبریاله: لیکوال، شاعر، ژورنالیست او د ګڼو لیکنو او شعرونو خاوند جمال ناصر اصولي د ولسي جرګې پخواني وکیل نوروز خان اصولي زوی، په کال ۱۳۵۹ د خوست ولایت د تڼیو د دره‌ګي کلي، په یوه روڼ انده کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې دي.

د پیل زده‌کړې یې تر درییم ټولګي پورې د خوست ولایت په نسوانو لېسه کې کړې، وروسته تر هغې چې د ښاغلي اصولي پلار په ولسي جرګه کې د خوست د خلکو د استازیتوب ویاړ ترلاسه کړ، له خپلې کورنۍ سره کابل ته راغلل، چې پاتې زده‌کړو ته یې دلته د کابل په عبدالهادي داوی لېسه کې دوام ورکړ، او د دوولسم ټولګي فراغت یې د خوست د غرغښت له لیسې څخه ترلاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلی اصولي هم د نورو ځوانانو په څېر مینه درلوده چې لوړې زده کړې ترسره کړي، او وکولای شي چې د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو له لارې خپل هېواد او هېوادوالو ته د خدمت جوګه وګرځي. همدا وه چې د لوړو زده کړو په موخه کابل ته راغی او وروسته د کانکور تر آزموینې، د کابل په پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کې يې خپلو زده کړو ته دوام ورکړ او دغه پوهنځی يې په لوړه درجه پای ته ورساوه او د ماسترۍ لپاره يې هم ازموینه ورکړه، چې د ماسترۍ دوره يې هم په پښتو ادبیاتو کې په پوره بریالیتوب سره پای ته ورسوله.

ښاغلی اصولي یوه چاپ شوې شعري ټولګه لري، ( اوس د درد په نوم دوهمه ټولګه هم چاپ شوې ده، سیاسي جګړې يې بل آثر دی)، په دې ټولګه کې د ښاغلي اصولي هغه شعرونه چاپ شوي دي چې د هېواد ښکلا، ناخوالې، درد، ژړا او ارمانونه په خپله غېږه کې رانغاړي.

په ناچاپ اثارو کې یو ناول هم لري، بله شعري ټولګه يې هم د چاپ لپاره چمتو ده، یوه ټولګه د لنډو کیسو او یوه سفرنامه هم د چاپ لپاره چمتو ده، چې وروسته تر یو لړ مراحلو به چاپ ته ورسېږي.

خبرياله:

د ســــحرا پـــــه زمــــانو مــــې لــــوی کــــاروان و
خـــــو پـــــه کنــــدو کنــــډوالو مــــې را روان و

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یتــــیم لـــه اوښـــکو بـــار و، نـــوم یـــې نـــه و
چـــا ویـــل چـــې لـــه آســـیا افغانســـتان و

ســــــــــوداګر د وینوغوښــــــــــو ور روان دي
وایـــي پـــاس بـــه دلکشـــا یـــې لـــوی مکـــان و

ښاغلي اصولي د نړۍ ۳۳ هېوادونو ته سفرونه کړي، چې د سفرونو موخه یې هم د خپلو تجارتي کارونو تر څنګ فرهنګي سفرونه هم وو، چې په فرهنګي غونډو کې یې د افغانستان په استازیتوب ګډون کړی. ښاغلي اصولي د لندن په برمېنګم ښار کې د افغان ټولنې فرهنګي مسوول هم پاتې شوی. نور یې له ډېر شمېر شاعرانو سره د هغه د آثارو د چاپ په برخه کې د چاپ لپاره مالي مرسته هم کړې.

هــــــره خـــــوا ثنـــــا کـــــوي
مینــــــه کـــــې بـــــلا کـــــوي

ســـــرې دي پښـــــتنو ســـــترګې
خـــــود بـــــه واویـــــلا کـــــوي

خبریاله: ښاغلی اصولي په خوست کې د «اربکي» په نامه د یوې مجلې مسوول مدیر هم پاتې شوی او د اصولي صاحب ځینې شعرونه، سیاسي لیکنې په بېلابېلو مجلو، جریدو ورځپاڼو کې هم چاپ شوي او په یو شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادبي خپرونو کې هم خپاره شوي دي.

انګېـــزه مـــې ورکـــه شـــوې د غـــزل وه
اندېښـــــنه د ژوندانـــــه راســـــره مـــــل وه

یـــو ناڅاپـــه د خمـــارو ســـترګو لیـــد و
د قلـــم پـــه نشـــه یـــي، جذبـــه تولیـــد و

مـا ویـل خدایـه ښـاپېرۍ لـه کومـه راغلـه
پـه خنـدا شـوه چـې خنـدا مـې تـا لـه راغلـه

اوس مهال ښاغلی اصولي د شعرونو او ادبي کارونو تر څنګ په رسنیو کې د سیاسي تحلیلګر په حیث هم ګډون کوي، او د ځوانانو د پرمختګ په برخه کې په هېواد کې په بېلابېلو برخو کې هڅې کوي.

تا دې ته فکر کړی؟
چې شپه نور ځان پټوي
تیاره د رڼا له وېرې امن غواړي
چې د تیاره آسمان له اړخو
رڼا پلو ښکاره کړي
دنیا دنیا تیارې ته ماتې ورکړي
په پټ پټوني ورو ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تيارو بره شان شي
مرغان راويښ غونډې شي
ورو ورو سندرې وايي
نرمه هوا چليږي
د هوساينې زوګ راويښ غونډې شي
طبيعت له ډېرو ستړو
سترګې راوغړوي
د ارامښت په غېږ کې
نړۍ ته سا ورکوي
د ګهيځ دغه وخت مې
د جنت خيال ته بوځي
لېرې له دغې دنيا
هغې مهال ته بوځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رحمت شاه سايل د شاعرۍ حماسي اړخ

## لومړۍ مرکه

خبرياله: د خپرونې په دې برخه کې پر دې باندې خبرې کوو چې رحمت شاه سايل د حماسي شعرونو تر څنګ نور کوم ډول شعرونه ليکي، زموږ مېلمه د پښتو ژبې ليکوال، شاعر او ژورناليست جمال ناصر اصولي پرې خبرې کړې چې په ګډه به يې وګورو.

ښاغلي سايل د خپل طبعيت خيال په شعري ژبه په ښه هنري انداز انځور کړی او د ولسونو زړونو ته يې لاره پيدا کړې ده، ځکه چې سايل پر کلي، غره، منګې، ونې، بنګړي د رباب پر غږ مين انځورګر شاعر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصولي: رحمت شاه سايل د پښتني ټولنې زېرنده دی، دی په پښتني ټولنه کې زيږېدلی دی، د پښتنو ناخوالې يې ليدلې دي، هغه څه چې د ده پر ماحول کې تېرېږي، هغه يې ليدلې دي، او هغه انځورونه يې چې په ټولنه کې ليدلي دي، هغه يې را اخيستي دي، شعر کړي يې دي، غزل کړي يې دي، ټولنې ته يې وړاندې کړي دي او منظوم کړي يې دي.

ښاغلي سايل تل هڅه کړې چې د ټولنې هغه ناخوالې را واخلي، چې دی او يا د ده قوم ورسره لاس او ګرېوان دی؛ تل يې هڅه کړې ده چې د ورځنيو ستونزو انځور ټولنې ته وړاندې کړي؛ هغه چا چې د ژبې سره بې وفايي کړې ده، هغه يې را اخيستي، انځور کړي يې دي؛ تل يې هڅه کړې ده چې هغه څه را واخلي چې د ژبې او د قوم پر ضد يې دي او دی پکې اوسېږي.

سايل که څه هم په ډېر کوچينوالي کې شعر شروع کړی دی، دی ديارلس (۱۳) کلن و چې لومړی شعر يې ليکلی دی، خو بيا يې هم د خپلې شعري ټولګې چاپ ته ډېر صبر کړی، او شل کاله وروسته يې يوه ټولګه چاپ کړې ده. او دا هم د دې ضمانت کوي چې ده پر خپله شاعرۍ او ټولنې ته پر وړاندې کولو يې ډېر فکر کړی دی.

سايل وايي:

زمـــا پـــه دواړو اوړو ناســـتو پرښـــتو وليکـــئ
زما پـه سر چـې څـه ليکـئ نـو پـه پښـتو وليکـئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هغه څه دي چې هلته يې له حالاتو څخه را اخيستي دي، يانې چېرته چې اوسېږي. لکه کوزه پښتونخوا. ده په کوزه پښتونخوا کې له خپلې ژبې (پښتو) سره کړې ناخوالې بربنډې کړې او ټولو ته دا پيغام ورکوي چې پښتو يوه پاتې ژبه ده، خو د هغه چا له خوا پاتې شوې چې اوس په قدرت کې دي او په دوی يو ډول نه يو ډول حکومت کوي، که څه هم په سيمه کې لرغونې ژبه هم پښتو ده، خو بيا يې هم د پرمختګ لپاره لاره هواره شوې نه ده، يانې دفتري کړې يې نه ده؛ د ښوونځي ژبه يې نه ده کړې، بلکې يوازې کور ته او په کور کې پاتې شوې ده. دا او دېته ورته ټولې ناخوالې يې را اخيستې او شعر کړي يې دي.

خبرياله: د رحمت شاه سايل د ګرانښت لامل هم همدا دی چې په خپلو شعرونو کې يې حقيقتونه بيان کړي او د ټولنې او نړۍ انسانان يې مينې او ورورګلوۍ ته رابللي.

اصولي:

د پـاکو مينـو ګنهګـارو چـې منکـر پـرې نـه شـئ
د رقيبـــانو الزامونـــه پـــر تنـــدو وليکـــئ

د سايل په شعر کې خلکو ته دا هم يو پيغام دی، چې تاسو راپاڅئ او دا الزامونه پر تندي وليکئ؛ مبارزه ورسره وکړئ او راوينس شئ هغه څه وکړئ چې د يوې ژبې ويونکي ورته ضرورت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه ښایســتونو پســې یــې ورکــو لېونــو ملګــرو
زمـا پــه زړه کــې د ګــل مینــه پــه اغــزو ولیکــئ

دا هغه څه دي چې سایل پکې د زړه له تله خلکو ته یو پیغام ورکوي

ای شـــاعرانو د قلــــم پـــــه آزادۍ مینــــو
حـــال د بلوڅـــو ماشـــومانو د ســـلګو ولیکـــئ

له سایل سره نه یوازې د دې پښتنو غم دی، بلکې تر څنګ یې د بلوڅو پر ویر هم ژړېدلی؛ د هغوی سلګۍ یې انځور کړې؛ د بلوڅو د ژبې، د قومونو ستونزې یې انځور کړي او تل یې غوښتي دي چې هغوی ته هم توجه وشي او له هغو خلکو څخه، چې تل یې د بلوڅو حق خوړلی، غواړي چې د هغوی حق ترې وغواړي.

خبریاله: د انځورګر شاعر رحمت شاه سایل شعرونه تر ننه د پولې دواړو لورو ته د ښو او نامتو سندرغاړو، لکه نغمې، استاد ناشناس او داسې نورو سندرغاړو هم کمپوز کړي.

اصولي: سایل نه یوازې دا چې په کوزه پښتونخوا کې پر پښتنو ژړېږي او حماسي شعرونه یې یوازې هلته منحصر نه دي پاتې شوي، بلکې د افغانستان خوا ته یې هم را دانګلي دي او خپل غټ کور یې ستایلی دی.

لا په کابل کې پابندي ده د نارنج په ګلو
ګیني هغه خوشبو خو زړه د پېښور ته رسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دا هغه خبرې دي چې سايل يې هلته په كوزه پښتونخوا كې ډېرې نشي كولی، دی ډېر څه ويني، خو په شعر كې يې را اخيستلي او تر څنگ يې پر كابل هم ژړلي، همداراز په پېښور يې هم ژړلي، په پښتو يې هم ژړلي، پر لر او برو پښتنو يې ژړلي. سايل ته دواړه قومونه – چې اوس يې د ډيورنډ كرښه پر منځ تېره شوې، د ملا پر تير يې تېره شوې او نيمايي كړي يې دي – يو ورته معلومېږي.

سايل تل هغه څه ويلي چې له ټولنې او ماحول څخه يې اخيستي دي.

سايل وايي:

مـــا تـــه دا نصـــيحت كـــړی پاچاخـــان دی<br>څـوک چـې خپلـه ژبـه سـپكه گڼـي سـپک شـي

خبرياله: ښاغلی سايل د نړۍ له طبعيت سره مينه لري او تل يې د دې طبعيت ښكلا د قلم په ژبه په ښكلي انداز بيان كړې، چې د شعر مينه‌والو يې هر شعر په خاصه علاقه لوستی او لولي.

اصولي:

دغـه گفـت د داسـې پـاک ملنـگ د خـولې دی<br>څـوک چـې خپلـه ژبـه وركـه كـړي نـو ورک شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګورئ دلته دا څو پیغامونه چې سایل د ژبې په مورد ورکړي، اګر چې د پښتو په اړه یې ډېر څه لیکلي؛ خلکو ته یې پیغام ورکړی چې خپله ژبه را جګه کړي؛ په سیمه کې تر ټولو لرغونې ژبه را جګه کړي او له سیال سره یې سیاله کړي. موږ اوس هم په انګرېزي او په نورو ژبو درسونه وایو، ښوونځي ته ځو او هغه ژبې هلته راته تدریسېږي، را باندې تحمیل شوې، نو ده له پښتنو څخه هیله کړې چې را جګ شي او خپله ژبه سپکه نه کړي، خدمت ورته وکړي.

د سایل حماسي شعرونه ما ته د ده تر عشقي شعرونه ډېر لوړ معلومېږي، ځکه هغه څه چې د زړه له تله ویل کېږي، هغه ټولو ته مهم، خواږه او تر ټولو لوړ وي.

نو سایل صاحب هم هغه څه را اخیستي چې د ده د زړه درد بلل کېږي.

خبریاله: ښاغلي سایل د خپلو حماسي شعرونو په لیکلو سره نه یوازې په پښتونخوا کې د خلکو په زړونو کې ځای پیدا کړی دی، بلکې د نړۍ په هر هغه هېواد کې چې څوک له شعر سره مینه لري، خاص ځای لري او شعرونه یې په خورا مینه لولي.

اصولي: د رحمت شاه سایل ژبه روانه ده، عشقي شعرونه یې خواږه دي، لکه څومره چې یې حماسي شعرونه تر ټولو خواږه دي، همداسې عشقي شعرونه یې او هغه څه چې ده شعر کړي دي؛ هغه څه چې یې منظوم کړي دي او د نظم خاصه یې ور اغوستې ده، هغه یې ډېر خواږه ویلي دي.

سایل تر ډېره سوچه پښتو لغات را اخیستي دي، خپل شعر یې د اردو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګلیسي کلیمو څخه ساتلی دی، ده په هغو شرایطو کې چې په کوزه پښتونخوا کې نیمه ژبه اردو او انګلیسي شوې، د پښتو ګرامر پکې نه مراعاتېږي، خو بیا یې هم پښتو ګرامر مراعات کړی دی، لهجوي لغاتونه یې را اخیستي او ځای په ځای کړي یې دي، پښتنو ته یې ور پېژندلي دي، ولس ته یې ور پېژندلي دي او دا یې ویلي دي چې په پښتو ژبه کې که موږ خوشحال لرو، که رحمان بابا لرو، که حمزه لرو، نو دلته نور هم پیدا کېږي، که تر دوی پورې ور رسېدلي هم نه وي نو تر یوه حده یې دوی ته هغه پوړی ور نږدې کړی وي.

د سایل شعر ډېر روان دی، پښتني دی او د پښتنو جذبه پکې پرته ده او هغه جذبه چې پښتانه یې خوښوي، هغه احساساتي جذبې دي چې ده هم تر یوه حده ترې په شعر کې کار اخیستی، ولس ته یې وړاندې کړې. د پښتنو خو احساساتي جذبې ډېرې خوښېږي. فکر کوم همدا لاملونه دي چې د ده شعر د ټولو خوښېږي او ډېرو سندرغاړو سندرې هم ترې جوړې کړې دي.

خبریاله:

زمـــا پـــه دواړو اوږو ناســـتو پرښـــتو ولیکـــئ
زمـا پـه سـر چـې څـه لیکـئ نـو پـه پښـتو ولیکـئ

د پـاکې مینـې ګنهګـارو چـې منکـر پـرې نشـئ
د رقیبـــانو الزامونـــه پـــر تنـــدو ولیکـــئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه ښايســـتونو پســـې ورکـــو ليونـــو ملګـــرو
زمــا پــه زړه کــې د ګــل مينــه پــه اغــزو وليکــئ

زمـا پـه لاسـو کـې، پـه پښـو کـې ديوتاګـانو د وخـت
د زنـــده‌ګۍ نـــوم د اجـــل پـــه زولنـــو وليکـــئ

د ځنيځيرونـــو خـــالقلانو د وحشـــت زامنـــو
مـــا پـــه کتـــار کـــې د ژونـــد د لېونـــو وليکـــئ

ای شـــاعرانو د قلـــم پـــه آزادۍ ميينـــو
حـــال د بلوڅـــو ماشـــومانو د ســـلګو وليکـــئ

د آزادۍ عـــالمبردارو د نـــړۍ قـــامونو
اوس د نــړۍ نقشــه کــې کــور د پښــتنو وليکــئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له پردیو کلیمو څخه د خپلې ژبې ساتل

## دویمه مرکه

خبرياله: بيا هم سلامونه!

محترمو ليدونكو او اورېدونكو څنګه كولی شو چې خپله ژبه د پرديو كليمو څخه وژغورو؟

په دې اړه مو د ژبو او ادبياتو ماسټر جمال ناصر اصولي پرې غږولی دی، د ده خبرې به هم واورو.

اصولي: په هره ټولنه كې چې نظامي يرغل وشي، يا هره ټولنه چې تر نظامي يرغل لاندې راشي، هلته هر څه امكان لري. لومړی موضوع يې د فرهنګي يرغل ده چې هلته دېته لاره هوارېږي چې فرهنګي يرغل په آسانه پر مخ ولاړ شي.

په افغانستان كې ۳۷ كلنې جګړې هرڅه تر سيورې لاندې راوستي دي. ګاونډيان مو د نظامي يرغلونو تر څنګ تل فرهنګي او كلتوري يرغلونو خوبونه ويني او كړي يې هم دي. په چا يې پلي كړي دي؟ دوی خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسقيم ډول دلته نه دي راغلي، بلکې دوی هلته ورته ناست دي او پلي کوونکي يې خپله افغانان دي. لومړی موضوع يې زموږ افغانی جامې دي. زموږ ښاري خلک، خصوصن ښځينه، تر ډېره خپل افغاني لباسونه نه اغوندي، چې يوه موضوع دا ده. همداراز په ځوانانو کې هم همداسې ده، ښاري ځوانان هېڅکله نه غواړي چې خپل افغاني لباس ته توجو وکړي. يو مثال يې زه درته وايم، هر کله چې د يوه ځوان واده وي، نو دی د دې پرځای چې افغاني جامې، واسکټ يا خولۍ واغوندي، د هغوی پرځای دوی د هندي سريالونو په تقليد جامې اغوندي او بيا د شاه په ډول محفل ته راځي.

دويمه موضوع د ژبې موضوع ده چې زموږ پر ژبو (پښتو او دري) دواړو باندې د ګاونډيو هېوادونو له خوا هر وخت ډېر لغتونه او کليمې تحميل شوي دي، تحميلونکي يې موږ يو، موږ لار ورته هواروو. د افغاني کليمو ځخه بد وړو او پر ځای يې ايراني، انګليسي، اردو، عربي او نورې کليمې ژبې ته په شعوري او غيرې شعوري ډول د ننه کوو. موږ په مجلس کې پلار ته د (پلار) په ويلو شرميږو، هغې ته والد وايو او ځان متمدن حسابوو.

درېيمه مسئله دا ده، هر کله چې پر موږ (افغانانو) نظامي يرغل شوی دی، تر څنګ يې پر ژبو او فرهنګ هم يرغل شوی. د روسانو په وخت کې همداسې وشول. کله چې روسان راغلل زموږ په ښونځيو کې روسي ژبه عامه شوه او دا ژبه يې د دويمې ژبې په ډول تدريسوله، همدارزا د دې ترمخه چې د اسلام د خپرولو لپاره عربان دلته راغلل، نو زموږ پر ژبو باندې عربي تسلط پيدا کړ او خپل اغېز يې تر اوسه پرېښود. همداراز که همدا اوس هم وګورو، نو انګليسی ته ټول خلک ترجيح ورکوي، لومړی ژبه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګليسي ده او دويمه ژبه کې پښتو يا دري ورسره زده کوي، ياني دا خو يې مورنۍ ژبې دي، خو د زده کولو لپاره يې انګليسي ژبه تقريبن لومړنۍ ژبه بللې ده چې زده يې کړي.

همداراز ځوانان تل کوښښ کوي چې د خپل ځان د عصري ښودلو لپاره انګليسي او يا نور بهرني لغتونه وکاروي، خو په دې سره يې همېشه خپلې ژبې ته شعوري يا لاشعوري ګواښ پېښ کړی، خپلې ژبې يې تر پښو لاندې کړې دي، همدا مسايل دي چې ژبې ته يې زيان اړولی دی.

يو مثال زه درته وايم، په کوزه پښتونخوا کې زموږ پښتانه ورونه چې دي، د دوی پښتو فلمونه داسې عياش شوي چې سړی فکر کوي د پښتنو فرهنګ اصلن هلته شته نه، ځکه څه شی چې دوی هلته انځوروي، نو خلکو ته پکې يو بل پردی کلتور ور وپېژني. همداراز هلته خو يې له ژبې سره ښځي نورې ژبې ګډې شوې او پښتو پکې ډېره کمه پاتې شوې ده.

هو، دا هم ويلای شو چې يوه ژبه د نورو ژبو له لغتونو پرته پرمختګ نه شي کولی، خو هغه يو معيار لري، لکه پينځه ويشت (۲۵) سلنه موږ کولای شو چې له نورو ژبو څخه پور واخلو او هغه مفغن يا مفرس کړو، تر څو چې په خپلو ژبو کې يې وکاروو.

خبرياله: ليکوالان په دې اند دي چې د پښتو لپاره ډېر کار بايد وشي، څو چې د دې ژبې سوچه لغتونه ورک نه، بلکې لا ډېر وکارول شي او په پښتو او دري ژبو کې له خپلو لغتونو څخه کار واخيستل شي، نه د نورو ژبو.

اصولي: علومو اکاډمۍ د ژبو د سوچه‌والي لپاره فکر نه کوم چې څه کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او که کړي يې هم وي، نو يا به زه نه يم خبر او يا به په نشت حساب وي. نو د هرې ژبې د سوچه‌والي لپاره او د ژوندۍ پاتې کېدا له پاره، پکار ده چې ټولنې ورته جوړې شي، لکه پښتو ټولنه چې وه، په اوسني وخت او په فعلي زمان کې لومړۍ ضرورت همدغه دی چې پښتو ټولنه جوړه شي، همداسې دري ته بايد يوه ټولنه جوړه شي تر څو چې له ايراني کليمو څخه وژغورلای شي. ايرانيان روغتون ته بيمارستان وايي، موږ په دري کې ورته شفاخانه وايو، اوس که دواړه نومونه پرتله کړو ويلی شو چې شفاخانه ښکلی نوم او کليمه ده، نو بيا زموږ دري ژبي ولې له خپلې اصيلې ژبې په منډه دي او د پرديو په انګړونو کې اختر لټوي. نو زه فکر کوم چې د دې ډول ټولنې په جوړېدلو سره کولای شو چې د پرديو لاسوهنه بنده کړو.

په اوس کې نه حکومت او نه نورو  بسټونو د ژبې د سوچه والي يا هم د ساتنې له پاره هېڅ نه دي کړي، نه يې د نورو فرهنګونو مخه نيولې ده او نه کوم هوډ شته دی. زه فکر کوم چې په ټول تاريخ کې به له ژبو سره دغسې يو ناوړه چلند نه وي شوی، لکه اوس چې وشو. لکه موږ او تاسو پخوا پوهنتون درلود، خو د پوهنتون لپاره اوس د دانشګاه کليمه کارېږي، موږ او تاسو ملي مصطلحات لرو، د ملي مصطلحاتو د مروجولو لپاره، د هغې د ساتلو لپاره، هېڅ منبع نه لرو، تر څو چې د پرديو کليمو مخه پرې ونيسو، اګر چې موږ ځينې بنسټونه لرو چې کولی شي د دې مخه ونيسي، مګر په دې اړه يې کوم اقدام نه دی کړی، هېڅا يې مخه نه ده نيولې. موږ په دري کې ښکلي لغتونه لرو، نور ورته جوړولی شو، مګر دا په دې مانا نه ده چې له نورو ژبو څخه يې را واخلو او دري پرې ونڅوو. نو زما په نظر بهترينه موضوع به دا وي چې د دواړو ژبو لپاره ټولنې جوړې شي، خصوصن د پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره، ځکه پښتو له دفتره لوېدلې ده، دفتري ژبه اوس تر ډېره دري ده، په ټولو پښتون‌مېشتو سيمو کې اوس ډېر اداري کارونه په دري کېږي، نو د دې لپاره چې پښتو ژوندۍ پاتې شي، زه فکر کوم يو کلک عزم ته اړتيا ده. ټولنې او بنسټونه ورته جوړشي، البته د مرکز او ولاياتونو په سطحه، تر څو چې پښتو ته رشد ورکړای شي، نو غوره موضوع به همدا وي. بله مسله داده چې پښتو د پښتنو له خوا بې ستره شوې ده، پښتنو ځپلې ده، پښتنو خپلې ژبې ته عزت نه دی ورکړی، کنه په هره اداره کې پښتانه شته، پښتو ولې نه ليکي، نه يې لولي او نه هم پرې غږيږي.

پښتون تر هغې نر پښتون وي، چې رسمي دنده ونه لري، کله چې مقرر شي (ملي) شي، پښتو ته شا کړي او د پښتو په ليکلو ځان متعصب احساسوي. د بل پښتون هم مخه نيسي، د پښو يې تيرې باسي او تر ټولو مخکې همدا دی پرې د متعصب ټاپه لګوي. دا ډول پښتنانه وايروسونه په هره اداره کې مينده شي، په خروارو دي.

ځواب يې دادی، چې پښتنو د ژبې سره بې باکي کړې ده او خپله ژبه يې بې عزته کړې ده.

چې د اصل موضوع وتلي نه وو، موږ په هر ګړدود کې پرېماني سوچه پښتو کليمې لرو، چې معياري شوې نه دي، ژبپوهان دې پرې کار وکړي تر څو ژبه يې مالامال شي.

زموږ د تنيو په ګړ دود کې ځينې داسې کليمې شته چې تر اوس معياري شوي نه دي، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شلغم: منګرېته

تور بانجان: پتينګړ

انګور: مېلوه

آنار: مونګوړی

سبزه يا چمن: بروه

حجره يا ديره: ولمانوځي - ميلمانوځي

چارپای -تخت: کټ

هديره: جلګه

قبر: مړستون

هديره: مړستنونه (جلګه)

دوه منزله - د کوټې په سر کوټه: سابوت

د پټې پوله: موره

غلبيل: پرويزی

غرمه: برېځر

غرمې ته نيږدې وخت: تنکی برېځر

جارو: رېبز

جرس: ګونګړی

لمن: پيڅه

دستکش: لاسمخی، (لاسميغی)

خپل پردی: پيڅه پېلم

د زړو ښځو ښېرا: (لمېشن) شې - يانې تبا شې، ځوانيمرګ شې.

ډېر ښکلی دی: (رټ) ښکلی دی

غيرتي، تورزن سړی: (رټ) سړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



باران: ورینګي
سوړ ورو باد: زوبګ (ځوګ)
باران: شیګاره/ ورینګي
باندې: ورچینې، بیدیا
خولۍ: ټوپۍ
د کور پرده، څلور دېوالي: وېږه

خبریاله: د پښتنو په ډېرو سیمو کې ډېر مختلف او سوچه لغتونه لرو چې خورا ښکلي او مانا لرونکي دي، اما پر اوس وخت کې د همدې لغتونو پرځای له نورو ژبو څخه راغلي لغتونه کارول کېږي، چې دا هم خپله پښتو یا دري ژبې ته ډېر ضرر رسوي.

اصولي:
زموږ سیاسیون چې له بهره پراشوتي راغلي دي د ژبې په ارزښت خبر هم نه دي، دوی پښتو ته ارزښت نه ورکوي، بیا به کار څنګه ورته وکړي؟ د ژبې سوچه والی او کار کړل ورته دې حکومتونو کار دی. خو هغه حکومتونه چې اصیل وطني وي.

زموږ په ډېرو هغو ولایتونو کې چې د نورو هېوادونو سره کرښې او پولې لري، له ورایه د نورو ژبو اغېز پرې ښکاري، لکه په ډېرو پښتونمېشتو سیمو کې اوس پاکستانی کلتور راغلی او د پاکستاني کلتور اغېز مطلق ښکاري. که موږ او تاسو ننګرهار یا خوست ته ولاړ شو، په خوست او ننګرهار کې به له ورایه د پاکستان کلتور اغېز ولیدلای شو، چې دا موضوع په دواړو برخو کې شته، په ژبو کې یې هم د هغوی اغېز محسوسولی شو، علت به یې یو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي چې زموږ په هېواد کې ناامني وه، هره خوا مو مهاجرتونه کړي، اوس هم هاخوا ډېر مهاجرين لرو، دغه اغېز به په دواړو خواوو کې وي، خو پر موږ ډېر شوی. په همدې ډول د ايران سره پر سرحد پراته افغانان مو هم د همدې ناروغۍ ښخه زوريږي. او د دې مخنيوی يواځې يواځې په هغه څه کېدای شي چې قانون پلی شي، قانون دلته نه پلی کېږي. ما مخکې د ملي مصطلحاتو موضوع ياده کړه. د ملي مصطلحاتو د ساتلو لپاره هېڅ نه دي شوي، همداسې نور ډېر لغتونه لرو چې په شعوري ډول راوړل شوي او ولس يې بيا په لاشعوري ډول عام کوي او دېته کار کوي تر څو چې پردۍ يا د بلې ژبې کلمې په خپلو ژبو کې عامې کړي. نو مخنيوی يې يواځې په هغه صورت کې کېږي چې زموږ په هېواد کې امن وي پښتو او دري ته په رښتيني ډول کار وشي، نه دا چې موږ د نورو ژبو مصطلحات، کلمات را واخلو او په خپلو ژبو کې يې عام کړو.

په لويه پکتيا کې داسې کليمې شته چې تر اوسه په معياري ګړدود کې ما نه دي ليدلي، کوچنی مثال يې درته وايم، زموږ د لېسانس په دوره کې استاد پوښتنه وکړه چې موږ دستکشو ته څه وايو؟ دستکش دري کلمه ده. موږ د خوست د تڼيو په لهجه کې دستکشو ته (لاسميغي) وايو. لاسميغي يانې هغه لاس‌مخی دی چې «خ» يې په «غ» اوښتې. داسې په ژبه کې په زرګونو نورې کليمې لرو چې هغه نه دي را اخيستل شوي او تر اوسه يې ژبپوهان نه پېژني او که پېژني يې هم، نو فکر نه کوم چې ژبې ته يې د ننه کړي وي.

«جرس» ته، موږ په پښتو او خپله لهجه يا ګړدود کې «ګونګړی» وايو. زموږ ډېر استادان دي، البته د پوهنتون استادان چې ګړونګی به پېژني،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر په ويلو کې يې نه کاروي.

بلخوا موږ ځينې د گوتو په شمار داسې پوهان هم لرو چې پښتو ته کار کوي، لغتونه ورته جوړوي، مگر هغه لغتونه ډېر مرکب او سخت دي. هر کله چې د يوه څيز لپاره کليمه يا يو نوم جوړوو، نو پکار ده چې هغه ډېر ساده وي، په ژبه کې ښکلی تلفظ شي، زر عام شي، خلک يې زر واخيستلی شي او بامفهومه وي، نو داسې هم کېدای شي او اړينه هم ده، چې د ژبې د سوچه‌والي او د ژبې د پياوړتيا لپاره موږ او تاسو پينځه‌ويشت فيصده لغتونه جوړ کړو، پينځه‌ويشت پور واخلو، پينځه‌ويشت د خپلې ژبې له گړدودونو څخه را اخيستلای شو، نو زه دا وايم چې پنځوس فيصده بايد له خپلې لهجې څخه را واخلو او په يوه ژبه کې يې عام کړو، ځکه زموږ ژبه پراخ گړدودونه لري، په هر گړدود کې سوچه پښتو کليمې شته، چې معياري شوې نه دي، ويلی شو چې پښتو ډېره غني ژبه ده، خو کار ورته په کار دی، چې تر اوسه نه دی شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د تورې او قلم څښتن (خوشحال خان خټک)

## درېيمه مرکه

راپور: د خوشحال بابا د پېژندلو په باب سرچينې نه ختمېدونکي دي، بلکې سلګونه مقالې، کتابونه د ده د پېژندلو او د اشعارو په مختلفو اړخونو باندې چاپ شوي دي. نن يې په اړه ليکوال او شاعر جمال ناصر اصولي صيب غږوو:

اصولي: خوشحال خان خټک د تورې او قلم سړی و، دی په يوه داسې کورنۍ کې زيږېدلی و چې د ده پلار، نيکه د وخت سرداران وو، که څه هم د هند په لويه وچه کې هغه وخت د مغلو حکومت و، د کابل لويه لاره يې دوی ته په جاګير ورکړې وه چې دوی به يې ساتي، د اکوړه څخه رانيولې تر خوشحال خان پورې د همدې لارې ساتندويان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان بابا وايي:

زه خـو شـحال د شـهباز خـان يـم
چـى تـورزن يـم كـان پـه كـان

شـهباز خـان د يحيـى خـان و
چـى بـل نـه ؤ هسـى ځـوان

يحيـى خـان د اكـوړي و
چـى پـه دور شـو «سـلطان»

د اكبـر بادشـاه پـه دور
شـو د خپـل اولـس تورخـان

د هجـرت زر دوويشـت سـن ؤ
چـى زه راغلـم پـه جهـان

د هغـه كـال پـوره پنځـوس و
چـى شـهيد شـو شـهباز خـان

د هغـه دور بادشـاه و
قـدردان، شـاه جهـان

د پـلار ځـاى يـى مـا راكـړ
پـه اولـس شـوم حكمـران

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحال خان له وړوکوالي څخه، کله چې دی په يوه خاني کورنۍ کې زيږېدلی و، دی د جنګونو سره او دی د هغه وخت له ناخوالو سره بلد و. خوشحال بابا د دغو مسايلو تر څنګ ډېر ښه قلم درلود، ډېر آثار يې وليکل، د ده قلم د ده له ځوانۍ څخه شروع آن تر مرګه پورې رسېږي چې ډېر آثار ترې پاتې شوي دي. ځينې ليکوالان وايي چې دی ۲۰۰ آثار لري، چون د وخت ناخوالو د ده ځينې آثار ورک کړي دي، کوم آثار چې يې موږ ترلاسه کړي، هغه د ده په ديوان کې خوندي شوي دي، او څو څو ځلې يې د پښتو ټولنې لخوا او همدا شان د نورو مطبعو لخوا چاپ شوي او د خلکو په لاس کې دي.

خوشحال خان بابا نه يوازې دا چې شاعر و، ليکوال و، بلکې دی يو بهترين ملي اتل و، د پښتنو د وخت ناخوالې يې درک کولای شوې، دی په آخره کې د مغلو په وړاندې وجنګېد.

د خوشحال خان بابا ژوند اصلن درې برخې لري، يوه يې د ماشومتوب برخه وه، چې په هغو کې دی له کومو مشکلاتو سره مخ شوی و. دويمه برخه يې هغه ده چې دی د مغلو د واک لاندې جنګېده يا د مغلو په ګټه جنګېده او دريمه برخه يې هغه ده چې دی د مغلو په ضد را جګ شو، کله چې دی بندي شو او بيا له زندانه آزاد شو، نو ده وويل:

پس له بنده دی دا عزم
د خوشحال د خاطر جزم

يا نيولی مخ مکې ته
يا مغلو سره رزم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یـــا یـــو کـــنج د غـــره نیـــولی
لمـــــونځ روژه د لوســـــتو بـــــزم

بابا په یوه قصیده کې وایي چې زه پ ځان پوه نه وم چې مغولو ولې ونیوم، ولې یې بندي کړم، دا هغه مسله وه چې همېشه یې د ده زړه درداوه، مگر د ده د شخصیت‌جوړونې لپاره دغه زندان یوه بهترینه وسیله شوه. کله چې دی له زندانه راووت، نو د مغلو پر ضدی یې جگړې پیل کړې، مقاومت یې پیل کړو او مبارزې یې پیل کړې.

پـــــرورده کـــــه د مغولـــــو پـــــه نمـــــک یـــــم
دا ورنـــگ لـــه جـــوره هـــم لـــه غریـــوه ډک یـــم

پـه نـا حـق یـې پـه زنـدان کـړم یـو څـو کالـه
خـدای خبـر دی کـه پـه خپلـه گنـاه شـک یـم

پښـــــتنو ســـــره زړه تـــــور دی د مغـــــو لـــــو
خبـــر دار یـــې پـــه نیتونـــو یـــک پـــه یـــک یـــم

کـــه ســـره کـــه نـــا ســـره راتـــه معلـــوم دي
پـــه دا کـــار کښـــی پـــه معنـــا لکـــه محـــک یـــم

هغـــه زیســـت چـــه د عـــزت لـــه مخـــه نـــه وي
چه یـې کـار پـه هغـه زیسـت پـورې هـک پـک یـم

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپل نام و ننګ راشم ليونی شم
خبر دار کله په سودو زيان د لک يم

اور يې پورې په منصب په نوکرۍ شه
چه تر فهم وتر نظر د مغل کک يم

هر پښتون چه د مغولو نوکری کا
که د زده د هغو واړو بهترک يم

پښتانه لره شرۍ اند يرۍ بس ده
نه په فکر د مسند نه د توشک يم

چه منصب مې د مغل خوړيو ملک وم
چه منصب د مغلو نشته اوس ملک يم

د فرمان د پروانی حکم يې نه شته
شکر دا چه په خپل حکم خپل وک يم

آزادي ده په ساده سپينه جا مه کښې
خلاص له غمه د زر بفت و د ميلک يم

د وښو جو نګړې هسې را ته ښې شوې
وايې ناست په محلونو د آ هسک يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــه اوگــره د بتــو شــته پــه شــوملو ســپینه
د مغلــو پــلاو پــاتی ډیــر پــری ډک یــم

کــه مــی عمــر پــه شــماره د دیرشــو تیــر دی
لا پــه کــار کښــې د ســورلۍ لکــه ازبــک یــم

د افغـــان پـــه ننـــگ مـــی وتړلـــه تـــوره
ننگیـــالی دزمـــانې خوشـــحال خټـــک یـــم

خبریاله: خپل پخواني لیکوالان، شاعران او اتلان مو مطالعه کړي دي، هغوی هم معمولن د افغانستان لپاره هیلې درلودلې، د افغانستان لپاره یې ښې طرحې درولودلې، چې که هغه عملي شوې وای، اوس به موږ یو ښه افغانستان درلود، مثلن له هغې جملې څخه موږ که یادونه وکړو، له احمدشاه بابا نیولې، تر ننه چې پر خوشحال خان خټک خبرې کوو، همداراز لکه په تېرو خپرونو کې مو چې پر سید جمال الدین افغان باندې خبرې درلودلې، هر یو چې مطالعه کوو، گورو چې دوی د افغانستان لپاره څومره هیلې او ارمانونه درلودل، ولې عملي نه شول، آیا دا هم د پښتنو یا په عموم کې د ټولو افغانانو بې اتفاقي وه؟

اصولي: دلته یوه مهمه موضوع دا ده چې په افغانستان کې د پوهې یا علم کچه بېخي په صفر کې ضرب شوې وه او تر اوسه هم موږ ډېره فیصدي نالوستي خلک لرو، بې علمي ده، خلک له کتاب سره مینه نه لري، یو بل نه خوښوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبریاله: ولې په نالوستو کې حساب شوي وو، موږ خو دغسې اتلان درلودل، البته څلور سوه کاله پخوا، چې اوږده موده ده، موږ پکې داسې د تورې او قلم اتلان درلودل؟

اصولي: ګورئ موږ د قلم اتلان یوازې په ادبیاتو کې لرو، موږ د تورې اتلان لرو، چې هغوی تل په توره باندې هغه خپل قوت استعمال کړی او له ښکېلاګرو سره یې سر جنګولی، سر یې وهلی، موږ هېڅ وخت پردیو ښکېلاکګرو نه یو پرېښې، د تاریخ په اوږدو کې هر ښکېلاکګر چې راشي، وهو یې، خو هغه چې وتښتي بیا بل راشي، نو دلته مشکل په دې کې دی چې زموږ علمي او د پوهې کچه، معنوي او مادي دواړه دوی راته تر پښو لاندې کړې ده او له هر ښکېلاکګر سره چې موږ لاس او ګرېوان یو، نو یوه پېړۍ مو شاتګ کړی دی، خو کله چې سر را پورته کړو، بل راځي او هغه مو هم پر شا غورځوي. خاص علتونه یې دا دي چې دلته د پوهې کچه نشته، او دلته له علم څخه لرې پاتې شوي یو.

خبریاله: په نورو هېوادونو او اروپايي هېوادونو کې څېړونکي لګیا دي د خوشحال خان خټک پر شعرونو او لیکنو څېړنې کوي، دا به هم پر دې مانا وي چې انسان او انسانیت یې ښه لوستی دی، ښه یې مطالعه کړی او وروسته یې قلم پورته کړی دی؟

اصولي: داسې ده چې د خوشحال خان خټک اشعار یا آثار په ډېرو ژبو ژباړل شوي دي. دی یو داسې شاعر و چې د نورو ژبو لیکوالان، لوستونکي او ادیبان خوند او عبرت ترې اخلي، بابا د ادبیاتو تر څنګ ښه مشر، ښه ډاکټر، رهبر او زړور پښتون و. د هند د لویې وچې شاعر علامه اقبال د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اړه ډېر څه ويلي، ډارمستېر ويلي، همدا شان ډېرو نورو ليکوالانو او شاعرانو د ده په مورد څېړنې کړې دي، د ده آثار يې ژباړلي دي او د ده د شخصيت په اړه يې ليکنې کړې دي. په لسګونو آثار يې په اړه چاپ شوي، په نورو ژبو کې چاپ شوي، په پښتو کې چاپ شوي دي.

راپور: خوشحال يو متعدل انسان او د لوړې پوهې خاوند و، هېڅ داسې يوه خبره نشته چې په شعر کې يې نه وي راوستې، زياتره شعرونه يې د هېوادپالنې رنګ لري. خوشحال ختک د کلاسيکې دورې نامتو شاعر او د پښتو ادبياتو پلار ګڼل کېږي.

خبرياله: که راشو د خوشحال ټول ژوند د هغه ادبي ژوند، د هغه د تورې ژوند، ټول مطالعه کړو، بالاخره ويلی شو چې د پښتو او راتلونکې لپاره يې څه پرېښي دي؟

اصولي: خوشحال خان ختک د پښتنو لپاره، د افغانانو لپاره، ډېر څه پرېښي دي چې موږ د يوه تاريخ او د يوې لارښوونې په ډول ترې استفاده کولی شو، موږ د يوه ټولنيز حل لپاره ترې استفاده کولی شو. بابا عادي شاعر نه و، بابا عادي مبارز نه و، بابا عادي افغان نه و.

د ده طبي برخه ډېره قوي ده، د ډېرو ناروغيو علاجونه يې ښودلي، يانې دا عجيبه په دې ښکاري چې دی د تورې او قلم څښتن په طب کې هم دومره پوهېږي، سياست يې، ټولنيز مسايل يې، د پښتنو يووالی هغه څه دي چې د ده په ديوان او د ده په اشعارو کې يې موږ موندلی شو او دا هغه بڼ دی چې په زرګونو ګلان پکې دي او د هر مرض دوا کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشحا خان خټک د پښتنو د بې اتفاقۍ څخه سر ټکاوه، يووالي ته يې رابلل او د اتفاق ګټې يې ورته ښودې:

هــــره چـــار د پښـــتانه تـــر مغـــل ښـــه ده
اتفـــاق ورځخـــه نشـــته ډېـــر ارمـــان

د بهلـــــول او د شېرشـــــاه خبـــــرې اورم
چـــې پـــه هنـــد کـــې پښـــتانه وو پاچاهـــان

شـــپږ اووه پېـــړۍ يـــې هســـې پاچـــايي وه
چـــې پـــه دوی پـــورې درســـت خلـــک وو حيـــران

يـــا هغـــه پښـــتانه نـــور وو او دا نـــور شـــول
يـــا د خـــدای دی اوس دا هســـې شـــان فرمـــان

کـــه توفيـــق د اتفـــاق پښـــتانه مـــومي
زوړ خوشـــحال بـــه دوبـــاره شـــي پـــه دا ځـــوان

راپور: خوشحال نه يوازې په توره کې رسېدلی سړی و، بلکې په شعر او شاعرۍ کې يې هم لوی مقام درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمال ناصر اصولي شعر او ادبي فعاليتونه

## څلورمه مرکه

ديکليمه:

**څنګه ومنم چې نه يې؟**

**همغسې ژوند روان دی**
**همغسې خلک ښوري**
**خلک ژوند کوي خنديږي**
**لمر شغلې کوي بليږي**
**سپوږمۍ ښکلې ده ښکاريږي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستوري عشق کوي ځلیږي
ځنګه ومنم چې نه یې؟

غرونه ښه درانه پراته دي
مرغان ښې سندرې وایي
سپرلی ناڅي راروان دی
غوټۍ ګل شي ښکلې خاندي
بوراګان ترینه تاویږي
هره خوا سور لاله زار دی
هره خوا مینه او ژوند دی
هره خوا په میو مست دي
هره خوا همغه ژوند دی
ځنګه ومنم چې نه یې؟

کومه خوا درپسې درشم
خیال او فکر مې تسخیر دی
ننواتې درته کړمه
ځان راوښیه یې چیرې؟
سا مې بنده، بنده کیږي
په خپل ځان کې زنداني یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب کې ته په وينبه ته يې
د سجدې ثنا مې ته يې
راته ووايه يې چيرې؟
څنګه ومنم چې نه يې؟

زه د ژوند سره عادت کړم
د شکرو خوند د راکړ
معطره د دنيا کړه
شپه او ورځ د را سينګار کړه
تور تمونه د لاهو کړل
بړبوکۍ د نسيمي کړې
په مسکاوو د کړم روږدی
هر يو غم د ترنم کړ
هر يو وير د سلامي کړ
هر يو درد د ملهمي کړ
دوزخي جانان د ښکول کړ
ترينه جوړ د اصولي کړ
څنګه ومنم چې نه يې؟

ناڅاپي هغه ورځ ښار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورتمونه راخواره شول
مړه غمونه رالمبه شول
هره خوا د وير نارې وې
هره خوا جوړ قيامت و
هره خوا په وينو سره وه
خلکو وير کاوه په کلي
ټول بازار په وير اخته و
آسمان هم ژړل په کريغو
وريځې تورې وې له غمه
لکه ځمکه چې لمبه وي
ښکلې حوره پرې پرته وي
اندامونه يې ورتيږي
له اووم آسمانه چيغې
لاندې ځمکې ته رالويږي
دا به څنګه تيره زړه وي
ځای په ځای چې نه دريږي
څنګه ومنم چې نه يې؟

د مسکاوو دور تېر شو
د خنداوو دور تېر شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښې بورې شوې او کونډې
محبت له ښاره ووت
رڼاګانې دوزخي شوې
ترنم ستونی يې بند کړ
تا به وويل چې ژونده
زما زړه زما دلبنده
ای زړګيه ټول ژوند ته يې
ته هر څنګه زما ښه يې
دا خبرې به دې کړلې
اوس د شونډې ژبه نه شته
اوس د ناز او مينه نه شته
څنګه ووايم چې ژوند کړم؟
څنګه ومنم چې نه يې؟

خوب ارام مې په ازغيو
په سکروټو کې راګير يم
غم لا څه چې خپله وير يم
هوساينه شوه بدبخته
دنيا اور واخيست سوځيږي
د زړه کور کلی مې وران شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لولپه شو، لولپه شو لولپه شو**
**څنګه ووايم چې نه يې**
**څنګه ومنم چې نه يې؟**

خبرياله: د مهربانه خدای تعالی په پاک او سپېڅلي نامه! دوستانو سلام عليکم، تاسو له آريانا ټلوېزيون څخه د مرغلرې خپرونه ګورئ، هر ځای چې ياستئ، ورځ او شپه مو پخير!

د دې خپرونې په عمومي برخه کې به قدرمن مېلمه شاعر او ليکوال جمال ناصر اصولي راسره وي، تاسو يې له شعرونو او ليکنو سره آشنايي لرئ. له دوی سره به خبرې وکړو، مخکې له دې چې پوښتنې ورڅخه وکړو، نو ښه راغلاست ورته وايو!

اصولي: له تاسو مننه کوم چې ما ته مو په خپله خپرونه کې وخت راکړ او زه مو راوبللم.

خبرياله: اصولي صاحب تر ډېره پورې دوستان ستاسو له نوم سره، ستاسو له ادبياتو سره آشنايي لري، خو يو ځل بيا هم غواړو چې د مرغلرې په خپرونه کې واورو چې شاعری او ليکوالی ته مو له کله څخه پيل وکړو، په کورنۍ کې مو نور څوک هم شاعر او ليکوال وو؟

اصولي: زموږ کورنۍ اصلن له پخوا نه يوه علمي کورنۍ ده، خو متاسفانه شاعران او ليکوالان مو په کې نه درلودل، اما پلار جان مې سياسي ليکنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، کله کله په مجلو کې خپرېږي.

خبریاله: له وړوکوالي څخه مو شاعري کوله؟

اصولي: هو، د شاعرانو اشعار مې لوستل، خوند یې راکاوه او زمزمه کول به مې، نو له ډېر وړوکوالي نه مې ورسره مینه وه او لوستل مې او شاعري مې هم له وړوکوالي نه شروع کړې ده.

خبریاله: تاسو چې د شاعرانو شعرونه او لیکنې لوستلې، کوم وخت یې پر تاسو داسې اغېز کړی چې کوم وخت شعر ولیکئ او یا لیکنې وکړئ؟

اصولي: اصلن ما ډېره مینه د رحمان بابا له اشعارو سره درلوده، خوشحال خان مې لوست، ملنګ جان چې ولسي شاعر دی، د هغه اشعار مې لوستي او غني خان مې لوست، نو ډېره ملګرتیا راسره د رحمان بابا اشعارو کړې، د غني خان اشعارو کړې، خصوصن هغه حماسي اشعار چې دوی ویلي، د وطن، د ژبې او د خپل قوم په اړه، نو هغه اشعار وو چې ما ته یې هم څه راکړل او ما هم یو څه الهام ترې واخیست او همدې ډګر ته یې زه هم راوایستلم.

خبریاله: ډېر ښه، په شعر کې ستاسو مضمون تر ډېره څه شی و؟

اصولي: زه د فورم له مخې تر ډېره غزل لیکم، آزاد شعرونه لیکم او څلوریځې هم لرم، بېلابېل فورمونه پکې شته، په عموم کې که ووایم ډېر اشعار مې حماسي دي، عشقي اشعار مې ډېر لږ دي، البته کوښښ کوم چې ویې لیکم، مګر لیکلی یې نه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرياله: ياني الهام مو هماغه حماسي دى؟

اصولي: بالکل او خوند راکوي چې حماسي شعرونه ووايم او وليکم او بيا يې زمزمه کړم او خوند ترې واخلم.

خبرياله: ځومره چې ويل کېږي، دا هم ټول په الهام پورې اړه لري، ياني چې څنګه الهام چا ته راشي، هماغسې يې ليکي، ياني په زور يو ځوک شعر نه شي ليکلی، که داسې نه ده؟

اصولي: بالکل، اوس داسې هم کله کله کېږي، چې زه د شعر شپږ بيتونه وليکم، خو اووم بيت چې راڅخه پاتې شي بيا يې بل وخت نشم ليکلی، ياني تر هغې بايد زه ورته انتظار شم چې يوه انګېزه پيدا کړم، تر څو هغه نيمګړی شعر بشپړ کړم. نو له يوې انګېزې پرته به ډېره مشکله وي چې ځوک خپل نيمګړی شعر بشپړ کړي. شاعران هم بيا په څو ډوله دي، ځينې يې فی‌البديهه شاعران دي، چې موږ يې په خوست ولايت کې لرو، په پکتيا کې هم شته چې فی‌البديهه اشعار وايي او دوی ورته (شورئ) او لغات وايي. مستقيمن يو شاعر له بل شاعر سره په ترنم کې د يو بل مقابله کوي او يو د بل ځواب وايي او همالته يې جوړوي، خو هغه د فولکلوريک يا ولسي ادبياتو يوه برخه ده، چې په فولکلور کې پرې بحث کولای شو، مګر اشعار چې يو شاعر يې ليکي او ورته کېني نو بايد يوه انګېزه موجوده وي، د انګېزې له مخې يې بايد وليکي، نو انګېزه چې نه وي، خورا مشکله ده چې يو شاعر دې شعر وليکي او د دې لپاره چې يو ښه شعر وليکل شي، نو بايد چې يوه ښه انګېزه موجوده وي.

خبرياله: ستاسو شعرونه په کورنۍ کې ځوک وايي او ځوک يې خوښوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصولي: زما اشعار خو په کورنۍ کې چې ماشاءالله ډېره لويه کورنۍ ده، ماشاءالله ورونه ډېر لرو، د ترو زامن همداسې، نور خپلوان، نو فکر کړم چې زما اشعار يې ډېر خوښېږي، د ترو د زامنو مې خوښېږي، د ورڼو مې خوښېږي او بل ورور هم لرم، هغه هم کله ناکله ځينې شعرونه ليکي.

خبرياله: نو که ستاسو خوښه وي، د خپرونې په دې برخه کې ستاسو د دوستانو چې ستاسو شعرونه يې لوستي دي او تر څنګ يې که مو وکيل صاحب پيدا کړ، په دې اړه به د هغوی نظر هم راواخلو.

اصولي: ولې نه، دا به ډېره ښه وه.

خبرياله: ليدونکو په دې شېبو کې راځئ چې وګورو د اصولي صاحب شعرونه چې د دوی دوستانو لوستي او لولي يې، څه نظر پرې لري:

بختيار صافی: جمال ناصر اصولي تقريبن د پينځو کلونو راپدېخوا زه پېژنم او خصوصن هغه وخت زموږ ملګرتيا شوه چې جمال ناصر اصولي د اربکي جريدې مسول مدير و. زما يې شعرونه او ليکنې ډېرې خوښېږي، ډېر تکړه ځوان دی او د دغو موضوعاتو لپاره ښه انرژي لري، د شعرونو يوه ښه ټولګه يې هم راغونډه کړې ده چې د (پردېسۍ تروږمي) په نامه په مارکېټ کې پيدا کېږي.(اوس دوهمه شعري ټولګه هم خپره شوې ده چې درد نوميږي). شعرونه يې په وېبپاڼو، اخبارونو کې، حتا ديکلمه شوي شعرونه يې هم پيدا کېږي، زما ورسره ډېر شوق دی. د اصولي صاحب په شعرونو کې يوه خاصه ځانګړتيا دا ده چې کله يې غوښتي په يوه موضوع باندې شعر وليکي، نو هغه د موضوع ټول اړخونه يې سنجولي دي، لکه د ده په زياتره شعرونو کې د ده ملي احساسات پيدا کولی شئ، د ده د مسافرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشکلات يا نور هغه موضوعات چې له اوسني وخت سره تماس لري، دغو ټولو موضوعاتو ته يې پکې ګوتڅنډنه او اشاره کړې ده. په جمال ناصر اصولي کې يوه بله ځانګړنه دا ده چې له دې نه علاوه چې شعري قلم لري، له دې سربېره په نورو ادبي موضوعاتو کې هم ډېر تکړه دی. همدا شان سياسي ليکنې هم کوي او د هېواد په معتبرو رسنيو کې د سياسي کارپوه په حيث ګډون کوي، چې زما ډېر خوښېږي.

د جمال ناصر اصولي فرهنګي هڅې هم تر ډېره، چې زه په جريان کې يم، هغه دا دي چې د خوست د ځوانانو د يووالي خوځښت فعال غړی دی، او ځيني ناچاپ شوي آثار يې، په نثر او نظم کې هم شته چې تر اوسه لا چاپ شوي نه دي،(سياسي جګړې کتاب يې اوس اوس له چاپه راوتلی دی). همېشه په دغه برخه کې له هغو کسانو سره هم مالي مرسته کوي، چې کتابونه يې ليکلی دي، خو د چاپولو وس يې نه لري، نو عمومن په فرهنګي هڅو کې چې د ده کومه ونډه ده، واقعن بايد په ښه سترګه ورته وګورو، او په دې موضوعاتو کې ډېر تکړه ځوان دی، زما نږدې دوست دی، نو په دې خاطر چې د ده په باره کې ځومره هم وغږېږم نو کمه ده. د ده په باره کې به زما همدومره پيغام بس وي.

عبدالحليم همت صاحب (*د عدليې وزارت اداري او مالي رييس*): د اصولي صاحب په هکله، څومره چې يې زه پېژنم، ما او اصولي صاحب به د شپې پوهنتون يو ځای وايه، نو د ده شخصيت ډېر لوړ شخصيت دی او زه يې له نږدې پېژنم، ځکه ما له ده سره د شپې او ورځې مجلسونه کړي دي. اصولي صاحب واقعن يو هغه دردېدلی افغان دی چې د افغانانو په درد باندې دردېږي او پر ښو يې خوشحالېږي او يو ريښتينی، پښتون او د کليوالو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره نر افغان دی، او زه ډېر احترام ورته لرم، همداراز نه یوازې دا چې اصولي صاحب خپله ښه انسان دی، بلکې له یوې ښې کورنۍ څخه دی، د ده کورنۍ سلسله ډېره لوړه سلسله ده، عالمه کورنۍ او دی هم خپله عالم انسان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاعري او ليکوالي يوه بېله نړۍ ده

## پينځمه مرکه

خبرياله (مسکا نيازۍ): قدرمنو ليدونکو بيا هم تاسو ته ښه راغلاست وايمه. ليدونکو تاسو ته به معلومه وي چې د خپرونې دغه برخه موږ شعر او شاعرۍ ته ځانګړې کړې ده، له موږ سره يو دروند شاعر هم مېلمه دی، نو له ده سره به موږ خبرې اترې لرو، د شعر او شاعرۍ په اړه له موږ سره پاتې شئ.

خبريال(کمال): دوستانو د خپرونې په دې برخه کې له موږ سره قدرمن مېلمه ليکوال او شاعر جمال ناصر اصولي مېلمه دی، چې ښه راغلاست ورته وايو. د اصولي صاحب شاعري ښکلې شاعري ده، د ده شعرونه موږ اورېدلي دي، نو ډېره مننه ترې کوو چې سټوډيو ته راغلی. دوستانو تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به هم شعرونه ووایي، د شعر او شاعرۍ په اړه به ترې پوښتنې وکړو، ښه راغلاست درته وایو اصولي صاحب چې زموږ بلنه مو ومنله.

اصولي: کور آباد، ډېره مننه!

خبریاله: خوشحاله اوسئ اصولي صاحب، دا چې په خپرونه کې له موږ سره یاستئ، موږ خوشحاله یو او نن به په شعر او شاعرۍ خبرې کوو، ځکه په افغانستان کې د شعر او شاعرۍ مینه‌وال ډېر زیات دي او ډېر خلک ورته لېواله هم دي. راځو دېته چې پر شعر او شاعرۍ وغږېږئ چې تاسو څومره شاعري کړې ده، له کومه وخته مو پیل کړې، او ستاسو په نظر یو ښه شعر کوم شعر ته ویلی شو؟

اصولي: د لوی او ښوونکي خدای په نامه. شاعري یوه بېله دنیا ده، په دې دنیا کې ټول وګړي نه اوسېږي، ځینې وکړي دې نړۍ ته لاره پیدا کوي، خوږه دنیا ده، د عاطفې او لطافت ډکه دنیا ده. زه د ښوونځي په څلورم او پينځم ټولګي کې وم چې اشعار مې لوستل، خوند یې راکاوه.

یوه خاطره درته ووایم، د ډاکټر صاحب نجیب په وخت کې په ملي راډیو تلوېزیون کې د ماشومانو خپرونه وه او شاهنواز جانباز دلته د ښوونې او روزنې د ادارې مشر و، نو زه به دې خپرونې ته ډېر راتلم، یوه ورځ راغلمه د کاوون توپاني شعر مې راوړی و، نو زه پر دې نه پوهېدم چې دا تخلص چې د کاوون توپاني دی، که دا خپل تخلص پکې واچوم، یانې دا بیا ادبي غلا کېږي که نه، خو ماشوم وم او ما همداسې کړي وو. کله به چې دلته راتلم نو اول به شاهنواز جانباز ته ورتلم، خدای یې دې ژوندی لري اوس په استرالیا کې دی، یوه ورځ چې ورغلم ویل یې نن دې څه راوړي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپرونه کې يې ووايې؟ نو ما بيا يو انقلابي شعر ورته ووايه، ويل يې چې دا شعر دې خپل دی؟ ما ويل نه خپل مې نه دی. ويل يې نو ولې دې خپل تخلص پکې کارولی؟ نو ما ورته ويل چې دا نو اوس غلط کار دی؟ ويل يې هو دا ناسم کار دی، دا بيا مه کوه. نو بيا مې هغه خبره له ځانه سره نوټ کړه او پر دې مې فکر شروع کړ چې زه به څنګه شعر ليکم.

ما له پخوا، له وړکتوبه د بېلابېلو شاعرانو اشعار لوستل، کله چې د انقلاب دوره په تېرېدو شوه او اسلامي دوره راغله، په هغې کې ډېر وخت موږ درلود چې مطالعه وکړو، بيا مو نو په اوايلو کې غني خان، رحمان بابا، لکه څنګه چې ټول شاعران همدا لولي، خوشحال خان زموږ کلاسيک شاعران ولوستل او له دوی څخه مې همدا انګېزه را پيدا شوه. اشعار مې ليکل خو له ځان سره مې ساتل نه، ځکه په ارزښت يې نه پوهېدم، خو کرار کرار مې بيا ځينې اشعار چې لرل، له هغو څخه مې بيا ډېر وروسته په ۲۰۰۲ کال کې د «پردېسۍ تروږمي» په نامه يوه شعري ټولګه چاپ کړه، خو وروسته بيا پر دې پوه شوم چې ما د دې ټولګې په چاپ کې يو څه بېړه کړې او په همدې خاطر مې بيا تر نه پورې چې ډېر کلونه واوښتل بيا بله ټولګه چاپ نه کړه، خو ډېر اشعار لرم چې که وخت مساعد شي، زه به هغه شعرونه، ورسره په څنګ کې ناول او لنډې کيسې دي، هغه به چاپوم، همداراز ځينې سياسي مرکې دي چې له رسنۍ سره مې کړې دي، تابيا لرم چې هغه هم د کتاب په بڼه راوباسم، يانې تقريبين تر پينځه شپږو ناچاپ اثار دي، خو ځينې وايي چې چاپ نه وي، هغو ته اثر نه شو ويلی، دا رښتيا ده، کله چې چاپ شي، بيا هغې ته اثر وايو، اوس يوازې يو اثر لرم، هماغه مو شعري ټولګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرياله: ډېر عالي، ډېر په زړه‌پورې ښاغلی اصولي صاحب ستاسو آواز هم ژورناليست ته پاتې کېږي، مثلن که چېرې تاسو راډيويي خپرونې وړاندې کوئ، نو د ژورناليستۍ لپاره مو ډېر ښه آواز دی، د ليکوالۍ لپاره، ځکه دا آواز چې دی ډېر اثر لري.

اصولي: کاروان صاحب يوه ورځ راته ويل، بده دربانديې ونه لګېږي يوه خبره درته کوم وايي غږ دې ډېر ښکلی دی، خو کاش چې غزل دې د ټکر غوندې ويلی، يانې سندرې دې ويلی هاهاها!

خبرياله: هاهاها، ښه، اصولي صاحب راځو شعر ته او پر دې باندې خبره کوو چې ډېر شاعران وايي چې هر ليکوال شاعر کېدلی شي، مګر هر شاعر ليکوال کېدلی نه شي، چې دا ډېره مهمه خبره ده. تاسو څومره له ليکوالۍ سره مينه لرئ او څومره ليکوالي کوئ، ځکه شعر او شاعري خو اوس په افغانستان کې خورا ډېره شوې ده، فطرتن هم که وګورو دا د پښتو ژبه او د پښتنو کلتور داسې دی چې پښتانه زياتره شاعران دي او په دې برخه کې هغه ښه بېلګه يې لنډۍ دي. لنډۍ په پښتو کې هغه اشعار دي چې هر پښتون او هره پښتنه يې ويلای شي، ځکه که ووايو چې ما به مبالغه کړې وي چې ټول پښتانه شاعران دي، نو داسې هم نه ده خو لنډۍ او دېته ورته نور هغه څه چې په پښتو ولسي ادبياتو کې دي، له دې څخه معلومېږي چې پښتانه له شعر او شاعرۍ سره ډېره علاقه لري.

ليکوالي مو څومره کړې ده، تاسو مخکې د ناول يادونه وکړه، په ناولونو مو کار کړی دی؟

اصولي: ليکوالي رښتيا هم يوه بېله دنيا وي، خو له يو بل سره نږدې يانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو له بل سره ترړاو لري، خو شعر زما په آند له ليکوالۍ يا له نثر څخه سخت دی، هر هغه څه چې موزون وي، له ساده خبرو څخه بېلېږي او سختېږي هم، نو پر دې اساس زما په نظر چې ليکوالي به آسانه وي، شعر، البته موږ او تاسو چې وايو چې شاعران دي، خو هغه شعر ته چې شعر ويل کېږي، هغه بيا لږ دي. شعر هر څوک ليکي، زه يې هم ليکم، مګر ځانته شاعر نه وايم، نو چا ته چې شاعر ويل کېدای شي او حساب پرې کېدای شي هغه شاعران بيا کم دي.

هو، ليکوالي مې هم کړې، ډېری وخت په ځينو مقالو کار کوم، اوس خو دا د شعر د دنيا تر څنګ سياسي ژوند ته هم داخل شوی يم، سياسي ليکنې کوم، ډېر ورځني موضوعات ياداشت کوم، چې په راتلونکي کې به هغه څه وي چې ټولنې ته نه وي راوتلي، ياني ټولنې نه وي ليدلي، خو ما ليدلي وي، هماغه به د افغانستان له ځوانانو سره شريکوم، چې د ملت په ګټه وي، د ملي ارزښتونو په ګټه وي، د ولس په ګټه وي، ليکوالي رښتيا هم چې د شعر تر څنګ يوه بله ښکلې دنيا ده او...

خبرياله: هنر هم دی!

اصولي: بالکل يو هنر دی، ياني موږ چې يوه پديده په بله پديده اړوو، دېته هنر وايي، ياني موږ چې عادي خبرې خوږې کوو، هنري کوو يې نو دا هم آسانه کار نه دی، او په ليکوالانو کې هم اوس ډېر داسې دي چې عادي خبرې کوي، مګر ځينې خلک بيا هغه عادي خبرې تر خلکو ډېرې خوږې رسوي او خلک يې هم په ډېر خوند سره اوري، لولي يې. نو دواړه بېلې دنياوې دي، هر ليکوال شاعر نه دی، او هر شاعر بيا ليکوال نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبريال: زما په اند هم چې شاعري ما ته سخت کار ښکاري او هر څوک شعر نه شي ليکلی، خو ليکوالي بيا آسانه ده او هر څوک يې کولی شي، ځکه چې روانه او سليسه ده، خو شعر بيا د ځينو شاعرانو په اند تر څو چې د شعر ښاپېرۍ دربانديې ناسته نه وي، نو شعر نه شو ليکلی. اوس راځو له تاسو څخه يو شعر اورو:

اصولي: حتماً ولې نه، ما خپل شعرونه ډېر نه دي راوړي، خو يو آزاد نظم دی:

ژوند ما سره مينه کوله
د جنون له تورو تيارو يې ساتلی وم
هره غېږ کې يې د مشکو خوشبويي خوره وه
هره مسکا يې د ژوند ساه وه
هره لمحه يې د روح غذا وه
ژوند ما سره مينه کوله
خو يو ناڅاپه مې د خوشحالۍ په کور کې
د رڼاگانو برج را ونړېده
تيارې انگړ ونيوه
د هرې خونې وره کې
بلاوې لنگې شولې
غوغاوې گډې شولې
د رڼاگانو اور کې
پاتې سکروټې شولې
ژوند ما سره مينه کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند ما سره مینه کوله
اوس مې د کور چاپېریال ساندې ویرونه وايي
زما په وره یې د تیارې نوم لیکلی
د ناروغۍ په څا کې
د زړه ټکور لوېدلی
ژوند ما سره مینه کوله

خبریاله: ډېر ښه، ډېر په زړه‌پورې، ښاغلی اصولي کله چې شاعر شعر لیکي، نو په داسې بېلابېلو موضوعاتو یې څرخوي چې حقایق ټولنې ته وړاندې کړي، یا د شعر په منځ کې پیغام وي، د شعر د اصولو په مراعات سره یې ټولنې ته وړاندې کړي، او کله چې د شاعر شعر اورې له هغې څخه به خوند اخلې، بیا شعر په خپل منځ کې ځینې خاص فورمونه لري، غزل دی، مسدس، مثلث لکه تا چې دغه آزاد نظم ووې، تاسو په کوم یوه فورم کې خوشحاله یاست. زه چې گورم ډېر شاعران غزل ډېر لیکي او وايي چې غزل د شعر د ټولو فورمونو پاچا دی. په دې اړه ستاسو نظر را واخلو.

اصولي: زه له تاسو سره موافق یم، هغه چوکاټ چې نور اشعار یې لري، غزل له هغو یو څه خاص دی، یانې په هر بیت کې یې بېل بېل موضوعات را اخیستل کېدای شي، غزل خوږ دی، غزل روان دی، غزل په یوه څپه تر پایه پورې روان وي، نو د غزل فورم رښتیا هم چې خوږ دی، خو ځینې نور فورمونه دي چې پښتو یې له پخوا لري، لکه لنډۍ، لکه ځینې سروکي، کاکړۍ او دې ورته نور پښتو فورمونه چې دي، هغه بیا لا خوندور وي، که څه هم د کتاب په بڼه لږ راغلي، مگر په کلیو او بانډو کې یې پښتانه لا زمزمه کوي، د دوی لپاره بیا هماغه خوندور دی، د دوی لپاره آسان دی، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی لپاره له معنا ډک دی، دوی همېشه هغه مطالعه کوي او له هغوی خوند اخلي.

زما په نظر د ټولنې لپاره به هغه شعر ډېر خوږ وي چې ټولنې په طبيعي ډول زيږولی وي. اوس راځو لنډۍ ته، پښتو لنډۍ لري چې د دنيا په هېڅ يوه ژبه کې د لنډۍ غوندې فورم وجود نه لري، خو دېته ورته يو فورم دی چې جاپان يې لري چې هغه هايکو ده، خو هغه بېل شی دی. هايکو هم څومره چې په جاپاني کې خوند کوي، هومره بيا په پښتو کې خوند نه کوي.

خبريال: هايکو په پښتو کې متاسفانه ډېر کسان ليکلی هم نه شي، ځکه د دې فورم هغه اصلي شکل ورته معلوم نه دی، بېخي بل شی ليکي.

اصولي: هو، بالکل هېڅ امکان نه لري، چې د جاپانيانو غوندې د يې وليکي.

خبرياله: ياني موږ دا فورم نه لرو؟

اصولي: هو، هغه عروضي فورمونه چې له عربي څخه پښتو ته راځي او په هغه ډول موږ شعر وليکو، نو د پښتو شعر خوند بدلېږي، ياني چا چې کوشش کړی چې په عربي عروضو شعر وليکي، د پښتو شعر هغه خوند بدلېږي، نه ليکل کېږي، ځکه پښتو ځانته يوه ژبه ده او عربي ځانته. که موږ ووايو چې ټپه يا لنډۍ دې په عربي کې وليکل شي، نو هېڅ امکان نه لري چې هسې خوند دې ولري.

خبرياله: که لنډۍ ترجمه هم شي، نو خوند يې ځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصولي: بالکل. هرې ژبې ته یو شعر په عین عروضو ځي، یانې په هماغه سیستم باندې ځي، نو هېڅ امکان نه لري چې هغسې خوند دې وکړي، مګر دلته په یوه لنډۍ باندې کتابونه لیکل کېږي. مثلاً:

که په میوند کې شهید نه شوې،
خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتينه!

پر همدې یوه لنډۍ باندې کتابونه لیکل کېږي. د پښتنو عادات، د پښتنو تورې، د پښتنو غیرت، بې ننګي، د ښځو غیرت، ننګ، یانې ډېر څه یې په غېږه کې رانغاړلي وي، او ټولنې ته یې وړاندې کړي وي. مطلب که څوک وغواړي چې کتابونه پرې ولیکي، نو کتابونه هم پرې لیکل کېدای شي، خو په بله ژبه کې بیا خوند نه کوي، ځکه له مانا او مفهومه به خالي وي.

خبریال: ډېره منه. اصولي صاحب کله چې موږ وایو چې دغه یو ښه شعر دی، یا خلک وایي چې دا یو ښه شعر دی. دغه ښه شعر به کوم وي، آیا په دې کې به هدف ښه وي، که تخیل به یې ښه وي، ښه مفهوم ولري، ښه تصویر ولري، کوم توکي یو شعر ښه شعر کولای شي؟

اصولي: ګورئ که په لنډ ډول ووایو، ښکلی شعر هغه دی چې د لوستونکي خوښ شي، خو شاعران یې بیا په بېل ډول تعریفوي، هغوی وایي چې د ښه شعر ژبه خوږه وي، څپې یې پوره وي، تصویر ولري، خیال ولري، یانې هغه پینځه توکي دي چې هغه باید پکې پرځای وي، خو زه وایم چې هره موزونه وینا چې لوستونکي ته خوند ورکړي، هماغه ښکلی شعر دی.

په لویه کې که ووایو، اشعار باید د ټولنو پر ناخوالو را وګرځي، د هغه وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ناخوالو پر مسايلو بحث وکړي، او د هغوی تعريف وکړي. ۳۵۰۰ کاله مخکې په مصر کې لومړنی شعر ايجاد شو. د مصر يوه مذهبي مدرسه وه چې په هغه کې ديني درس ورکول کېده، په هغه کې يو معلم و، چې لومړنی شعر يې وليکه. ده وويل چې که شعر د ليلا په شونډو، په زلفو، په ښايست راوڅرخي هغه شعر نه دی، بلکې شعر هغه دی چې د ولس ورځني مسايل را اوچت کړي او تر لوستونکي يې ورسوي، په خوندوره بڼه يې تصوير کړي، انځور يې کړي، او خلکو ته يې وړاندې کړي.

طنز ځومره خوږ دی. طنز اصلاً هغه څه دي چې يوه چا ته وايې چې ستا وېښتان ښه نه دي، پر سر دې وېښتان نشته، ستا قد ټيټ دی، ته چاغ يې، ته ډنگر يې، يانې بد توصيف يې کوي، خو طنز دا ټول په ډېر خوندور ډول تصويروي، يانې خپله هماغه شخص چې نيوکه پرې کېږي، هغوی هم ورته خاندي، ده ته يې رسوي، يانې دا يو بېل هنر دی.

په همدې ډول شعر هم بايد خوږ وي، د ټولنې هغه اصلي ستونزې را ولاړې کړي، انځور يې کړي او ټولنې ته يې ورسوي.

خبرياله: مننه کوم، اصولي صاحب طبعيت، چاپېريال پر شاعر ځومره اغېز کوي، مثلاً تاسو د کابل ښار ته راغلي ياست، خو که دلته وگرځې، نو شين فصل، يانې ځمکه به ونه گورې، همداسې که خوست ته ولاړ شې، مثلاً د خوست غرونه وگورې، د هغو طبيعي منظرې وگورې، ځومره اغېز درباندې کوي، شاعران خو وايي چې هغه سيمه، چاپېريال ډېر اغېز لري؟

اصولي: گورئ شاعران دوه ډوله دي، يو هغه دي چې هر وخت وغواړي شعر ليکلی شي، بل هغه دي چې يو الهام يا يوه انگېزه ورته پيدا نشي، نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغه شعر نه شي ليکلی.

اوس زه چې دا اوس وغواړم يو بيت شعر هم نه شم ليکلی، يوه نيم‌بيتي به جوړه کړم، بله به راځخه پاتې وي، يا به يې وزن خراب وي او يا به يې څپې کمې وي، مګر داسې هم کېږي چې يوه طبيعي انګېزه راته پيدا شي، چې بيا په پينځو دقيقو کې هم يو غزل ليکلی شم يا يو ښه نظم ليکم. طبيعي انګېزې په شاعر تاثير کوي، او له طبعيت څخه انګېزه اخلي. دا انګېزه طبيعي ده، چې شاعر ته پيدا کېږي او ځينې خلک دېته بيا الهام وايي.

نو بالکل هغه څه چې په طبيعت کې دي، د طبيعت په ليد کې دي، د هغې څخه شاعر يو ډول انګېزه اخلي، البته طبيعت يې ورکوي دا انګېزه، متاثره کېږي ترې، نو له دې انګېزې پرته هېڅ وخت شعر نه ليکل کېږي، يانې په خپګان کې شعر ليکل کېږي، په ډېره خوشحالۍ کې شعر ليکل کېږي، همداراز ډېرى شاعران له مينې څخه اغېزمن کېږي او شعر ليکي، ډېرى بيا پر يوه بل شي شعر ليکي، مثلاً يو کس اوښ درلود، نو ډېر اشعار به يې د اوښان له صفاتو ډک وو، ډېرى شاعران چې په کلي کې اوسېدلي وي، د کلي په اړه ډېر اشعار لري، يو څوک د درياب په مورد شعرونه ليکي او داسې نور...

خبرياله: مثلاً لايق صاحب غره ته ډېره شاعري کړې، يانې غر يې ډېر ستايلی دی؟

اصولي: بالکل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبریاله: یانې داسې شاعران به هم وي چې په شعرونو کې یې خپل ځان ډېر ستایلی وي؟

اصولي: بالکل، داسې هم ډېر شته دي، نه یوازې دا چې ډېر شاعران دي، بلکې هېڅ شاعر نشته دی چې د ځان توصیف ونه کړي. شاعرانو ته هغه خپل شعر تر ټولو ښکلی ښکاري، او ډېر دا وایي چې دا زما په اشعارو که چا نیوکه وکړه، دا په دې مانا چې زما زوی ته یې څپېړه ورکړه، زما اولاد ته یې څپېړه ورکړه.

خبریال: بالکل، ډېره مننه اصولي صاحب د خپرونې په دې برخه کې ستاسو یو بل شعر به واورو.

جمال ناصر اصولي: زه به یو غزل درته ووایم:

**کافر**

وایــــي چـــې غونـــډ افغانســـتان کـــافر دی
ستاســـو جومـــات، ستاســـو قـــرآن کـــافر دی

زمـــــوږ لمونځونـــــو څخـــــه ســـــاه وباســـــي
لانــدې مــو ځمکــه، پــاس آســمان کــافر دی

وایـــــي ســـــبا، پـــــرون او نـــــن مـــــو وژنـــــو
نـــن مـــو غنـــي، پـــرون امـــان کـــافر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايـــــي دا خـــــاوره بايـــــد لولپـــــه شـــــي
خوســـت مـــو کـــافر دی، بدخشـــان کـــافر دی

ستاســــو تنــــدي د لګولــــو نــــه دي
هـــم مـــو قبلـــه هـــم جانـــان کـــافر دی

اصـــولي ښـــار کـــې مرثيـــې وريـــږي
خنـــده کـــافره ده، خنـــدان کـــافر دی

خبرياله: ډېر ښه، ښکلی غزل و، څلور دقيقې وخت نور هم لرو، وروستۍ پوښتنه کوم، هغه دا چې اوس خو ډېر کسان شعرونه ليکي، همداراز د شعر تر څنګ ليکل هم کوي، نو د ليکوالۍ په برخه کې د دوی فعاليتونه څومره ګټور دي؟

اصولي: زه به يو وړوکی پيغام وړاندې کړم، که موږ وغواړو چې خپله ټولنه د سيالانو سياله کړو، نو موږ يې يوازې د شعر په وسيله نشو سياله کولی، نو ښه ده چې زموږ شاعران، ليکوالان په کومه برخه کې چې تخصص لري، په هماغه برخه کې د دوی علمي کتابونه ترجمه کړي، په علمي کتابونو دې کار وکړي، زموږ ټولنه هلته پرمختګ کوي، چې موږ طبي کتابونه ولرو، موږ په عموم کې علمي کتابونه ولرو، موږ له ايراني کتابونو څخه خلاص شو، موږ له پاکستاني کتابونو څخه خلاص شو، موږ له انګريزي کتابونو څخه خلاص شو، بلکې په خپله پښتو کتابونه ولرو، بيا هلته تر يوه حده موږ کولای شو چې له دوی سره په علمي ډګر کې سيالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو، داسې هېڅ وخت نه کېږي چې یو کتاب راوتلی وي، خو په ایران کې بیا په فارسي ترجمه شوی نه وي، مگر په افغانستان کې دې موضوع ته هېڅ توجه نه شوې او نه کېږي ورته.

په لویه کې موږ باید بهرني کتابونه، علمي کتابونه چې په هره ژبه کې دي، راواخلو او ویې ژباړو. یو شاعر دی، چې ډاکټر هم دی، هغه د دې طب کتابونه را وژباړي، کوښښ دې وکړي، یو کتاب دې په ټول عمر کې وژباړي خو دا کار دې وکړي. یو انجینیر دی له شاعرۍ او لیکوالۍ سره مینه لري، هغه دې انجینیرۍ په برخه کې یو کتاب را وژباړي، یوه مقاله دې را وژباړي، انټرنټ ته دې یې ورکړي، خپره دې یې کړي.

خبریال: ډېره مننه اصولي صاحب، ښو ټکو ته مو اشاره وکړه، زموږ د خپرونې وخت په همدې ځای پایته ورسېد، له تاسو ډېره مننه کوم او تاسو ته په خپلو چارو کې ډېر بریالیتوب غواړم.

جمال ناصر اصولي: خوشحاله اوسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شاعري ناکسبي هنر دی

**ديکليمه:**

تا يو څه را زده کړل
دومره مينه د راکړه
چې د زړه په هره برخه کې ګرانښت را ګډ شو
اوس چې ته نه يې
ستا په خالق مېين شوی يم
هرې غړېدا ته يې اوښکې تويوم
مخ په مخ يې ښکلوم
او په نيمو شپو ورته اوږدې اوږدې سجدې لګوم
د (ته لوړ يې) جملې په ويلو، تندی په ځمکه وهم
يواځې د ده ثنا کوم
يواځې دی ستايم
يواځې دی ښکلوم
ستا د ښايست خالق خورا ښکلی دی
ستا د جلوې مصور ډېر هنرمند

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرياله: ګرانو او قدرمنو ليدونکو سلامونه مې ومنئ، زموږ د ننني خپرونې ميلمه جمال ناصر اصولي دی، چې له ده سره ادبي بحث لرو، د ده ادبي ژوند څېړو، اصولي صاحب ښه راغلئ خپرونې ته:

اصولي: مننه چې زه مو را وبللم، ما ته مو وخت راکړ.

خبرياله: اصولي صاحب نن به راشو ستاسو ادبي ژوند ته، د ليدونکو سره به دا پوښتنې وي، چې تاسو همېشه په سياسي بحثونو کې وئ، او نن راځئ په ادبي بحث کې ګډون کوئ، کېدای شي ستاسو له شعر سره تر ډېره پورې څوک اشنايي ونه لري، ستاسو له ادبي ژوند سره، نو غواړو چې نن يې ورسره آشنا کړو. پيل به له تاسو وکړو، کله چې تاسو په خوست کې اوسېدلئ، د خوست د ښکلاوو، د طبعيتونو تاثير و، چې شعر مو وليکه؟ که لکه نور شاعران چې وايي، په وطن کې مو جنګ و، ځکه مو شعر وليکه او يا هم نور څه تاثيرات وو؟

اصولي: داسې ده چې د شعر ليکنه يا هغه څوک چې شعر ليکي، پر هغوی بېلابېلې اغېزې کېدای شي، چې يو څوک شعر ليکلو ته هڅوي، زه فکر کوم چې د طبعيت ښکلا، د طبيعت مصيبتونه، د ژوند هڅې، د ژوند رمزونه، د ژوند کړه وړه، دا هغه څه دي چې په رښتيا هم سړی شعر ليکلو ته هڅوي او شاعر شي. او داسې هم ويلی شو، چې شاعر دغه شعر کسبي نه دی زده کړی، بلکې په فطري ډول ورته پيدا شوی دی، ځکه شعر يوه کسبي پديده نه، بلکې يوه فطري پديده ده، چې ځينو خلکو ته پروردګار ورکړې ده.

زه خو وايم هغه څوک چې شاعر وي، هغه څوک چې د شعر په ژبه پوهېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څوک چې شعر لوستلی شي او خوند ترې اخیستلی شي، دوی به یو بېل ذوق لري، دوی به یو خوندور ذوق لري، چون شاعر همېشه هغه جذبات، هغه احساسات، هغه د طبعیت ښکلاوې، هغه د ژوند ښکلاوې، هغه انساني ښکلاوې، هغه غمیزې، هغه کړه وړه چې یو عادي کس یې هېڅ وخت نشي انځورولی او نه یې لیدلی شي، شاعر او لیکوال هغه راباسي او د کاغذ پر مخ یې انځوروي، ساه ورکوي، هغه ځه ته ساه ورکوي چې بل څوک یې حتا لیدلی نه شي، نو زه فکر کوم د شاعر یوه ځانګړنه دا هم ده، او شاعر د دغو ټولو کړو وړو څخه چې ما وویل د دغو ټولو څخه الهام اخلي او خپل شعر را پیدا کوي او خپل شعر ته د کاغذ پر مخ ساه ورکوي.

خبریاله: تاسو په خپلو شعرونو کې د طبعیت ښکلا ډېره انځور کړې، د طبعیت ښکلا ته مو ډېره ساه ورکړې ده، یا هم د انسانانو ښکلا ته، یا هم غمیزو پر تاسو تاثیر کړی؟

اصولي: ما په شعرونو کې اصلاً د هېواد ناخوالې ډېرې انځور کړې، چون چې زه په جنګ کې زیږېدلی یم او تر اوسه په جنګ کې اوسم، تقریباً دېرش پنځه دېرش کاله کېږي چې په افغانستان کې همدا جنګ دی، دلته بې له جنګ موږ څه نه دي لیدلي او تل مو همدا اورېدلي چې دلته څوک زخمیان شوي، چېرته چاودنه شوې، څوک شهیدان شوي، ماشوم، کونډه، غریب، بې وسه، دا هغه مسایل دي چې موږ او تاسو اورېدلي او اورو یې او همدا مسایل دي چې پر یوه شاعر تاثیر کوي او هغه څه انځوروي چې هغهویني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دیکلیمه:**

هلتــــه عشـــق او محبـــت دی
دلتــــه جهـــل ونفـــرت دی

هلتـــه جـام د ســاقي لاس کـــي
دلتـــه ســـرو وینـــو ســـرقت دی

هلتـــه وایـــي چـــي بربنـــد یـــو
زه بربنـــد پـــه خولـــه غیـــرت دی

یـــو خـــوا عـــدل بـــل خـــوا قتـــل
کـــوم دوزخ کـــوم یـــو جنـــت دی

زمـــا تـــوره ســـتا قلـــم دی
ځنګـــه بـــل رنـــګ طفالـــت دی

د اســـمان لـــه بیابانـــه
را خـــور شـــوی کـــوم ذلـــت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس مـــي ســـتا جيـــب تـــه نيـــولی
زه پښـــــتون وايـــــم خيـــــرت دی

اوس راځـــه الله(ج) د مـــل شـــه
زمـــا لالتيـــن لا هـــسي تـــت دی

تـــل مـــي ورور لـــه پښـــو نيـــولی
دا اســـــلام نـــــدی عـــــادت دی

زه د ديـــن غيـــرت دعـــوه کـــړم
لـــوڅ تـــور څټـــو مـــی عـــزت دی

پـــــه لـــــر کلـــــي ميخـــــاني دي
پـــــه بـــــر کلـــــي قبـــــارت دی

هلتـــــه مچـــــي دلتـــــه لاړي
اصـــولي وايـــه کـــوم پـــت دی

خبرياله: که د خپرونې په دې برخه کې ستاسو يو شعر واورو چې ليدونکو ته هم معلومه شي چې تاسو په خپل شعر کې څه ډول انځورګري کړې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصولي: په دواړو سترګو، يو شعر به درته ووايم.

**موږه د اور په پوکو ناڅو خپله نه ګډيږو**
**موږ د ډالر او کلدارو په وير نه مړيږو**

**منو چې تول عمر مو وينه په اسلام ورکړې**
**خو يو عادت لرو پيسو باندې هيڅ نه بسيږو**

**هغه د لونګ پنجابي سرو سره تللی نه شو**
**موږ پښتانه يو د کاغذ په بيه ښه خرڅيږو**

**ښه که د غرونو لېوني يو، د بازونو ښکار کړو**
**ولې د خويندو او يتيم په اوښکو نه څوريږو**

**موږ ميخانې لرو بې بيې ډک خمونه لرو**
**سهار بېګاه يې څښو تشې ري او نه مستيږو**

**د جنت لاره له کابله تېره شوې که ده**
**اصولي ووايه صرات له پوله کله لويږو**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرياله: اصولي صاحب تاسو کله په شعر کې مبالغه هم کړې ده؟

اصولي: شعر بې مبالغې نه وي، کله چې مبالغه پکې ونه شي، هغه شعر شعر نه بلل کېږي او يو تش کالبوت دی، نو مبالغه به حتماً پکې وي، حتا ډېر شاعران پکې تر غلو رسېږي، لکه حميد بابا چې هر وخت په خپلو اشعارو کې تر غلو رسېدلی دی، مګر د ده په شعرونو کې چې کومه ښکلا او نازکيخالي ده، د ډېرو کمو شاعرانو په شعرونو کې ليدل کېږي، وايي:

**خط په مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کې**
**دا يې غاښ به خوله کې زيب کا که ژاله شوه په لاله کې**

**هسې رنګ سحر او جادوګري په نظر د شهلا سترګو**
**نه يی سيال په هند کې شته دی نه ثاني په بنګاله کې**

**دا زما له غمه شين زړه په کی خيال ديار د شونډو**
**هسی رنګ زيب و زينت کا لکه مې په شنه پياله کې**

**که يار غواړې هومره ژاړه ځو درځي عبدالحميده**
**دا په دا چې دُر مونده شي په درياب نه په ناله کې**

(c) ketabton.com: The Digital Library



حنان بارکزی وايي:

**ستا له غمه شورش هسي را پيښيږي**
**چې پخپله مې دستار پر سر خلاصيږي**

**کې نظر د ښاپيرۍ وشي و مخ ته**
**تر ښيښې يې د فلک ناره تيريږي**

**بې له تا هسې ضعيف يم ګلرخساره**
**پر حباب باندي که پښه ږدم نه ماتيږي**

خبرياله: ياني د هغو له جملې داسې يو شعر به درسره وي چې مبالغه دې پکې کړې وي، او داسې کوم شعر هم لرئ چې خپله مو اوريدلی وي او ډېر مو خوښ شوی وي؟

اصولي: هو، شته راسره. اصلن کوم شعر چې شاعر ليکي، اول خپل خوند ترې اخلي، خپله مينه پرې ماتوي له هغې وروسته يې ټولنې ته وړاندې کوي.

خبرياله: ښه، څه فکر کوئ په هغه شعر کې چې مبالغه وي، تر هغه شعره چې مثلن حقيقي تصويرونه پکې دي، توپير يې څه وي، د کوم يوه ښکلا ډېره زياته وي؟ ياني هغه شعر چې پکې مبالغه شوې وي او که هغه شعر چې پکې د حقيقتونو تصوير اخيستل شوی وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصولي: ګورئ يو په شعر کې نازکخيالي ده، شاعر هنرمند دی چې څومره کولای شي په شعر کې نازکخيالي وکړي، هغه حقايق چې په ټولنه کې موجود دي، ښکاره راواخلي او په يوه نازک خيال يې خلکو ته وړاندې کړي او يو هغه څه دي چې وچ شډل شعر وي او له هغو سره خيال موجود نه وي، نو موږ بيا هغې ته کله ناکله شعر هم نه شو ويلی، او وايو چې دا يوازې هغه منظومه ليکنه ده چې ټولنې ته يې وړاندې کړې ده.

خبرياله: اصولي صاحب تاسو چې کله د نورو شاعرانو شعرونه لولئ، کوم شاعر مو ډېر خوښېږي؟

اصولي: زما خو په پخوانيو شاعرانو کې خوشحال خان خټک ډېر خوښېږي، ډېر مې لوستی او د ماسټرۍ په دوره کې مو په هغې باندې ډېر مکث کړی، په سمسترونو سمسترونو مو لوستی دی او له اشعارو سره يې ډېر بلد يم. همداراز غني خان مې ډېر خوښېږي، حمزه شينواری، پيرمحمد کاروان، سايل صاحب، په خوست کې محمد اورخان خاورين صاحب دی د هغې اشعار مې ډېر خوښېږي چې تر اوسه ډېر مړاوی دی، يانې ټولنې ته نه دی راوتلی، مګر اشعار يې ډېر لوړ دي، د کاروان صاحب ډېر اشعار مې لوستي، هغه څه چې مخکې مې ورته اشاره وکړه تخيل او د پيغام ډک اشعار لري. نو د کاروان صاحب اشعار واقعن چې په معاصرو ادبياتو کې هغه اشعار دي چې موږ به تر ډېره د ده په څېر شاعر ونه لرو او که دی نه و [خدای مه کړه] نو په ټولنه کې به د ده تشه تل احساسېږي.

خبرياله: نو ستاسو د کاروان صاحب شعرونه ډېر خوښېږي؟

اصولي: بالکل، خوندور اشعار لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبریاله: کاروان صاحب هم ستاسو په اړه څه ویل لري، د هغوی خبرې به هم واورو چې ستاسو په اړه څه وايي.

پیر محمد کاروان: جمال ناصر اصولي د خوست په ځوانانو کې یو بیدار ځوان دی، یو وطن‌دوست ځوان دی، مدني کارونه هم کوي، یانې له وطن سره یې مینه ده. لوړې زده‌کړې یې هم کړې دي، د دې تر څنګ شاعري هم کوي، ما د ده شاعري ډېر کلونه پخوا په خوست کې لوستې وه. هغه وخت کې به د دوی عمر کم و، خو شاعري یې خوږه وه، ښه وه، نو زما لپاره ډېر ښه شخصیت ښکاري، او ډېرې هیلې ورسره تړلې، هیله ده چې د وطن لپاره په درد وخوري، د خپلې ژبې لپاره په درد وخوري.

ما تقریبن لس کاله پخوا د اصولي صاحب هغه اولني شعرونه ولوستل، ما ته یې خوند راکړ، ډېر په تول باندې برابر وو، یانې شاعري یې ښه وه، نو اوس به له دې هم پسې ښه شي، ان‌شاءالله.

همدا شان وطني مسایل، دا د افغانانو ستونزې، په اصطلاح د غم او جانان تر څنګ د غم او دروان خبرې د ده په شعر کې شته دي.

نو داسې خبره ده چې د شاعر لپاره سړی داسې فرمایش نه شي ورکولی چې مثلاً ته داسې وکړه او داسې مه کړه. څنګه چې شاعري داسې یو کار دی، چې هغه د خپل زړه چې چا ته ووايي په هماغه کې بیا که سړی د ځان لپاره یوه لوړه څوکه وټاکي او ډېر لرې هدف انتخاب کړي، که دی دا د وطن‌دوستۍ په رنګ کې چې حماسي شعرونه وايي هم، نو په دې برخه کې دې ځان لپاره یوه ډېره لرې او دنګه څوکه وټاکي، چې هغه ته ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرياله: اصولي صاحب تاسو د ژوند ډېره برخه په مسکو کې تېره کړې ده، هلته مو هم ادبي غونډې درلودلې او ګډون مو پکې کاوه؟

اصولي: په مسکو کې په ټوله روسیه کې افغانان ربښتیا هم هلته ډېر اوسېدل، هلته ادبي غونډې کمې وې، خو عمومن په اخترونو کې یا په هغو ورځو کې چې د افغانانو د تاریخ برخې دي، نو په هغو ورځو کې به غونډې جوړېدې او موږ به هم په هغو غونډو کې ګډون کاوه او له افغانانو سره به مو د زړه خواله کوله، په ادبي ناستو کې هم ناست یو، او هلته د افغانانو لخوا د هندوکش په نامه یو جریده چاپېده، له هغو سره مو هم کله ناکله قلمي همکاري کوله، البته هغه اشعار وو چې ټول په پردېس کې لیکل شوي وو، دوی ته به مو ورلېږل او دوی به چاپول او د افغانانو تنده به پرې ماتېده، غونډې وې، کله ناکله به مو ګډون پکې وکړ. چون زموږ ښار له مسکو څخه یو څه لرې و، له هغه ځایه راتګ هم دوی ته مشکل و، تقریبن شپاړس سوه کیلو متره له مسکو څخه لرې و، خو بیا به هم چې خبر شوو، ځان به مو ورته رساوه او ګډون به مو پکې کاوه.

**دیکلیمه:**

## انګېزه

ما د محبوبې شونډې هم ښکل کړي
ما د مجاز د عشق خمونه تش دي
ما هر ښایست ته سلامي کړې ده
ما د رندانو میخانې ماتې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما د ښکلا دنیا کې ځان ورک کړی
په انګېزه د هرې ښکلې کې مې
اور اخیستی
تور اخیستی
خو،
چې د محبوبې خالق ما ولیده
د عشق د رب سره مې خواله وشوه
د ښکلا هغه هنرمند مې ولید
او د سرو میو د چینو مالک ته
په نیمه شپه کې په سجده پرېوتم
د عشق ښایست مې هله وپېژانده
په دواړه مخه مې مچو مچو کړ
د ژوند د هرې انګېزې په راز یې
د خوند په هره انګېزه یې پوی کړم

خبریاله: که بیا بلې موضوع ته راشو چې په مسکو کې خلک له خپلو لیکوالانو سره څومره مینه لري؟

اصولي: روسان یا په عموم کې اروپایان وایو، دوی خپلو لیکوالانو او شاعرانو ته یوه خاصه مینه ورکوي، د دوی اشعار خلک په داسې یوه فال باندې نیسي، چې هغه درناوی کم ملتونه ورته کوي، مثلن تولستوی چې یو ډېر ښه لیکوال و، ډېر څه یې روسانو ته ورکړي دي، پوره پوره شهکارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې دوی ته په ميراث پرې ايښي دي. همداراز الکساندر پوشکين ډېر آثار روسانو ته ورکړي دي.

خبرياله: اصولي صاحب اوس به ستاسو آثارو ته راشو چې څومره شعرونه لرئ په عموم کې؟

اصولي: په چاپ شويو آثارو کې خو تر دې دمه يوه شعري ټولګه لرم او درې نورې ټولګې ورسره دي چې ناچاپه دي، يو مې ناول ليکلی چې هغه هم ناچاپه دی، همداراز په څنګ کې يو بل اثر هم ورسره لرم چې هغه د شعر او کيسې په نوم دی، چې يو ځای شعرونه راځي او بل ځای هماغه شعر معرفي کېږي او خاطرې ورسره ليکل کېږي. نو دا ځينې ناچاپ آثار دي چې په نږدې راتلونکې کې به چاپ شي.

خبرياله: د دې وروستي اثر يادونه چې مو وکړله، تاسو د شعر تر څنګ چې هر شعر له يوې خاطرې سره ليکل شوی، نو څه فکر کوئ چې په ادبياتو کې به دا يو نوی شی نه وي؟

اصولي: زه فکر کوم چې په ټولنه کې به داسې شی چا نه وي چاپ کړی، يو شعر دی په څنګ کې يې هماغه خاطره ورسره راغلې، مثلاً د څه لپاره ليکل شوی، چېرته ليکل شوی، په کوم حالت کې ليکل شوی، د جنګ حالت دی، د سولې حالت دی، ستونزې دي، خوشحالي ده، نو زما په اند دا موضوع به يو څه ښکلې وي او دا کتاب به يو څه نوې بڼه ولري.

خبرياله: ناول مو څنګه ليکلی دی، له ناول ليکلو سره مو هم علاقه ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصولي: ناولونه رښتيا هم چې له پخوا څخه زما خوښېږي، ډېر ناولونه مې لوستي دي، ما هم دا ناول د کرزي د حکومت په اوايلو کې شروع کړ، د کوچيانۍ په نامه دی، د افغانستان د خلکو مشکلات مې پکې را نغښتي دي، د امريکايانو او اورپايانو، کله چې هېواد ته راغلل چې له افغانانو سره يې څه ډول سلوک کاوه، هغه مسايل مې پکې رانغښتي دي، د ناول کرکټر يو کوچی دی او وروسته هغه کومې غوټې چې لري هغه په امريکانو او د افغانستان د خلکو په ستونزو باندې راڅرخي او هغه ناخوالې پکې دي چې هغه زموږ د جنگسالارانو له خوا کېږي، د اروپايانو له خوا دلته وشوې، د طالبانو له خوا دلته وشوې، او د گاونډيو هېوادونو له خوا دلته وشوې، نو هغه ټول مې سره يو ځای کړي او يو ناول مې ترې جوړ کړی دی.

خبرياله: ډېر ښه. تاسو سياسي تحليل هم کوئ، څه فکر کوئ چې علاقه مو ورسره ده او که عقده‌يي دي ځينې ليکنې مو؟

اصولي: له سياسي ليکنو سره رښتيا هم چې زما شوق دی، څومره خوند چې زه له اشعارو يا ادبي ليکنو څخه اخلم، همدومره خوند له سياسي ليکنو څخه هم اخلم.

خبرياله: په کورنۍ کې د شعر مينه‌وال لرئ؟

اصولي: هو، په کورنۍ کې د شعر مينه‌وال لرم.

خبرياله: مخالف هم شته دي؟

اصولي: هو، مخالف هم شته دي.

خبرياله: ځينې شاعران چې شعرونه ليکي، مثلاً ځينې ښکلاگانې پکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصويروي، خو د كورنۍ له غږي سره يې پوښتنه پيدا كېږي چې دا شعر به يې چا ته ليكلى وي، نو تاسو خو له داسې موضوع سره نه وئ مخامخ شوي؟

اصولي: نو كه چېرته داسې موارد هم راشي، نو بيا شاعران هم ډېرې ژبې لري، نو بيا ورته وايي چې تاسو ته مو ليكلى هاهاها ...

خبرياله: ياني تر اوسه تاسې نه يئ مخامخ شوي؟

اصولي: نه، نه. هېڅكله نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ادبي او هنري نثرونو بېلګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱)

## نوی کال او په خوست کې يې لمانځل!

نوی کال يا نوروز د رنګينو ګلانو د غوړېدا احساس ورکوي، ډول ډول مرغان د سپرلي د راتګ زيري راوړي او هره خوا چڼچڼې حلقې جوړوي، او مرغاوۍ د اسمان پر مخ د بڼو په څېر کتارونه را ښکاره کوي، د ژوند کولو هيلې رازېږوي او د غمجنو په زړونو کې نوی خوشحالۍ غوړوي.

نوروز ډېر لرغونی تاريخ لري چې آن ريښه يې له ارياريانو له پېره را پيلېږي. افغانان هم چون ارياريان دي نوروز يې لمانځلی او تر ننه يې لمانځي. په دې ورځ خوشاليانې او اتڼونه کوي او دا ورځ د يوه پخواني جشن او د سپرلي د پيل ورځ بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لويه پکتيا او په ځانګړي ډول خوست کې د نوي کال لپاره خوشالیانې کوي او د نوي کال ورځ د يوې تاريخي ورځې په ډول لمانځي او دا ورځ د کال يوه ځانګړې ورځ بولي.

ځوانان د ميلو لپاره د ميلو ځايونو ته ځي او هلته د خوښۍ احساس راغوړوي، اتڼونه يې د ميلې سينګار لا ورښکليوي. ځوانان په لاس لرلو وسلو نښې ولي، شاعران فی البديهه ډول اشعار سره پرتله کوي، چې ورته شاعرانه جنګ هم ويلی شو. پخوا به ځوانانو د نيزو وهلو لوبې کولې او کټونکي ته به جايزې ورکول کېدلې، اما اوس په خوست کې نوموړی لوبه نه تر سترګو کېږي، خو ځای يې نورو لوبو نيولی دی، لکه خوسی خوسی، پهلواني او داسې نورې سيمه‌ييزې لوبې.

ښځينه هم په همدې ورځ زيارتونو او نورو خاصو د ميلو ځايونو ته ورځي، ځانونه سينګاروي او د ډېرې نه ليدونکو دوستانو سره ويني او د زړه خواله سره کوي. پخوا به ښځينه‌وو ميلې په اتڼونو لمانځلې چې اوس نوموړی دود نه شته.

ماشومان د نوي کال لپاره نوي کالي کوي، لاسونه په نکريزو کوي او په همدی ورځ، ماشومان په خپلو کې لوبې سره کوی، د خپلو خپلوانو کره د مبارکۍ لپاره ورځي.

يوه يادونه بايد وکړم چې د اسلامي حکومت د راتګ سره ډېر دودونه چې پخوا به د خوست او پکتيا خلکو په دې ځانګړې ورځ کی درلودل اوس يا بېخي ورک دي او يا هم په نشت حساب دي، لکه د ښځينه وو تلل زيارتونو ته، د اتڼ کول او داسې نور...

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوا به په همدې ورځ ډوډۍ ګانې پخېدې د يو او بل کورونو ته به سره ورتلل، چې اوس دا دود يو څه کمزوری شوی دی.

اوس هم په ډېرو سيمو کې د نوروز په ورځ د سخي صيب په نوم فيلمرغان او پسونه حلالېږي او دغه ځانګړې ورځې ته لا رنګينی ښښی. دخوست خلک نوی کال نه يوازې په دې لمانځي چې د اورځ يو جشن دی، بلکې د نوي کال ورځ د سپرلي او شنه موسم پيل هم بولي، بزګران ډېر ورته ويال او خوشاله وی، بېوال د خپلو مېوهلرونکو ونو حاصل ته ور نږدې شوي وي، مينان يې د راز راز ګلونو نندارہ کوی او ځانونه د سپرلي په وږمو مشغولوي او مينيز احساسات يی لا پياوړي کېږي.

په خوست کې د نوروز په ورځ کې د متون بابا په زيارت، د تنيو د ادماما په زيارت چې د غرونو په يوه ډېره لوړه څوکه پروت دی، مېلې کېږي، نارينه او ښځينه د همدې ورځې په بهانې سره په جلا جلا ډول راټولېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲)

## اختر په لنډيو کې

لنډۍ يا ټپه د پښتو هغه ځانګړی دوه نيم‌بيتي يا يو بيتي شعر دی، چې د نړۍ په ژوندۍ اته زرو ژبو کې يې ساری نشته.

دغې شعر ته ځکه لنډۍ وايي چې د هرې لنډۍ منځپانګه د لنډي مار په څېر چيچل کوي، لنډی مار تر ټولو مارانو سخت زهر لري. ځينې ادبپوهان بيا وايي چې نوموړی شعر يو بيت لري، لنډ دی، نو ځکه ورته لنډۍ وايي.

د لنډۍ يوه ځانګړنه دا ده چې اکثرن د ښځينه‌وو لخوا ويل شوي دي چې شاعره يا شاعر يې نامعلوم دی. لومړۍ نيم‌بيتي يې نهه او دويمه يې ديارلس څپې کيږي.

ټپې که څه هم ډېری د معشوقې لخوا مين ته ويل شوې، اما د ژوند هره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا پکې په ډېره خوږه، پسته، روانه او ښکلې توګه انځور شوېده. د اختر لپاره هم لنډۍ په بې ساري توګه انځورونه پرې اېښي دي:

ته د اختر په سهار راشه
زه به دروځم تورې سترګې سره لاسونه

دلته نه یوازې معشوقه خپل معشوق ته د مینې پیغام ورکوي، بلکې د اختر دود هم پکې له ورایه ښکاري، ځکه په اختر کې جونې سترګې توروي، لاسونه سره کوي او سينګار کوي.

اختر د واړو مبارک شه
که مسافر وي که د یار له څنګه وینه

اختر خو لویه خوشالي وي
چې زړونه اخلي پرې د عمر پیوندونه

اختر له تا سره ښایېږي
نور خلک خوشي د اختر هوس کوینه

اخیرنۍ ټپې د یار لپاره ډېر څه په ځان کې رانغښتي دي، یار ته د ده د ښکلا، ښه سړیتوب، نازولتوب او مینې حوصله ورکوي، نو ځکه یې اختر یوازې د یار بللی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اختر د واړو مبارک شه
زه به خپل سره لاسونه يار ته ورکومه

مسلمانان د اختر په ورځ يو او بل ته د اختر مبارکۍ سره ورکوي، د يو او بل کورونه ته ورځي. په ځانګړي ډول کشران د مشر انو حجرو ته ورځي تر څو د مشر قدر شوی وي، مشران هم اختري ورکوي.

اختر چې تېر شي بيا به راشي
دا د ځوانۍ عمر به بېرته نه راځينه

د انسان په ژوند کې په لسګونو اخترونه ځي او راځي او تر څو چې ژوند وي دا به په بيا بيا سلام را اچوي، مګر د ځوانۍ زر تېرېدونکی پېر بيا هيڅکله په انسان نه راځي، خوږې شېبې تل په زړونو کې خاطرې پاتې کېږي، تل انسان د ځوانۍ له ولولو سره ژوند کوي او د انسان په زړه کې تل پاتې کېږي.

د پښتو ادبياتو په هر ډول شعر کې اختر له ورايه ځلېږي، شاعران تل اخترونو ته شعرونه لوستي دي او شاعرانه الهام يې پرې مړاوې کړی دی.

ټول خلک کالي کوي اختر راغی
ما افغان تل سره کالي اغوستي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳)

## دا کاروان به کله ښار ته ورسي؟

چېرې چې جنت د خلکو په ربړولو وي، چېرې چې د حورو د پستو غېږو خيالي وصال د ماشوم څخه د پلار په اخيستلو وي او چېرې چې د غلمانو ګټل د وينو په خمونو وي او کله چې دودونه څپل شوي وي، مينه رټل شوي وي، کرکه مروجه شوي وي، هيلې زندۍ شوي وي، مسکاوې مړاوې شوي وي، ژوند د تيارو په مانا وي، هلته به څوک د جانان دربار جارو کړي؟

هلته به څوک د ښکلي يار په چاودو شونډو خپلې شونډې ولګوي او هلته به څوک مينې ته مسکا وروبښي؟

څوک به رڼاوې راوړي، څوک به د قراني جنت اصلي خمار ورو‌پېژني او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک به د خدای د وصال حقيقي منزل ته لار هواره کړي؟

ايا هلته به کرکې ورټل شي؟

ايا هلته به د مستو پيغلو پلو مستور کړای شي؟

کومه مور به مسيحا راوزيږوي؟

او کوم پلار به د يوسف مينه هيواد ته وراندې کړي؟

نو ته اوس راته ووايه

دلته به مجنون ليلا ته ورسي؟

دا منصور به کله دار ته ورسي؟

دا کاروان به کله ښار ته ورسي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴)

## خپسه

د میني د ښاپیرۍ غوندې را نیږدې شوه، غلي یې راته په غوږ کې وویل:

غواړې د زړه پاچاهي د لولپه کړم؟

غواړې په ویښه در باندې د جنتي دنیا سیل وکړم؟

غواړې چې غمونه دې د مسکاوو دبڼ مریدان کړم؟

څنګه به وي چې رپاندي شونډې دې د ګرمۍ په میو خولې کړم؟

لږ را نرم غوندې شوم، د فکر څپو د ځان سره لږ راکش کړم. ما وې دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیازبینه درته مسکی، مسکی، کیږي، پرېږده چې په للمه راووربېږي.

په نیمه او وارخطا ژبه مې کړه: ارررر ارشاد دی، شاد شاددد دی...

سمه راوغوړېده، لکه په وچه دښته، چې کوم ځای کیږدۍ وزرې وغوړوي. زما شونډې لکه د کلونو وچې پرخې یې راکېکاږلې، دومره یې اوبلنې کړې چې نېږدې وه ساه مي ووځي.

چې غږ شو، څه بلا وهلی یې، چیغې وهې، دنیا د خبره کړه، دا څنګه خپسه وي، ویښ شه، هې تاته وایم ویښ شه...

چې راجیګ شوم ګورم په پرې کټ مې پښه لاندې وتلې ده، شکر مې ویوست چې بلا وه برکت یې نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۵)

## افغانه جلکۍ

زه به نه پوهېدم، چې ته به ولې يوازې، يوازې کېدې. د لېرې مې همدا تماشا کوله، خو پوهېدم چې پيغله يې، ځمکې ته دې پښې نه لگېږي. يوه ورځ چې ته د وياليې په لور راروانه وې، په بلې خوا يې ما مرغۍ ويشتې، پام د هډو نه و، چې ستا د ښايست ليدنه هم څوک کوي. رانيږدې وې، چې د مخ څخه دې پلو باد وواهه، دا وو چې پوی شوم، ولې يوازې يوازې کېږې. ستا هغه د مخ باغچه چې بايد گلونه يې ورولی، پکې د وينو وچ شوي خوږونه ښکارېدل. ستا د مخ خوږونو سلگۍ غږولې، نارې يې وهلې او همدا ساندې يې ترنم کولې، چې ايا کومه للمه نه وه، چې پدې ښکلې شيراز او نرم مخ مو وکاږلو؟

ايا نه کېده چې د غمونو په کورونو مو باسلي وای؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايا نشواى كېداى چې موږ مو د اوبولو لپاره په شړو ايستلي واى؟

ستا ښايست، ستا دنگه سپيداريزه ونه، ستا نرمې گلورينې شونډې او ستا جنگ‌ځپلى مخ، چې د ځانمرگي د وينو او وحشت دارې پکې ښاريدې، کله هم نه سره جوړېدل. هو همغه افغانه شپاړس کلنه نجلۍ ته وې چې، په ټانکر بم کې دې د مخ جلوه د چاودنې د ځاى په څېر وحشي شوې وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (٦)

## درد

جونګړې ته ورته کور مو په کرايه نيولی و. لسم کال مې راباندې و، چې ژوند مې د تل لپاره بدلون وکړ...

يو ګهيځ ويده وم، چې د يوې درنې چاودنې غږ لکه لېونی له خوبه را کېنولم. ما وې زموږ د کور په انګړ کې وشوه. لېرې هم نه وه، چې چيغې شوې پلار د شهيد شو، پلار يې در وواژه...

د ځلوېښتو نورو افغانانو ترمنځ يو وژل شوی زما خدای بښلی پلار و. دا وخت د ډاکټر نجيب کلونه دي، چې ډېر کله مجاهدينو لوی، لوی بمونه په بسونو او ګڼه ګوڼه کې چاودول.

وخت نه درېږي، په خواريو او ستونزو تر يوې مرحلې راورسېدو. روسان ووتل او د ډاکټر نجيب حکومت يې ور ړنګ کړ. خلکو نارې کړې چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام سپين پتنګان په ارګ ورننوتل. په لومړۍ ورځ د کابل په اسمان کې يو بې سابقه وحشت خور شو. د کابل اسمان مرميو ګرو کړی و. هغه مجاهد د نر زوی و چې څوک دېرې ډزې وکړي.

پر سبا چې له شوګيره راجيګ شوو، خلک په کوڅه کې ډېر لږ ښکارېدل، داسې لکه کوم مړی چې شوی وي. آوازې خپرې شوې چې هغه کور يې چور کړ، فلانی يې وواژه، هغه يې بوته.

ورو، ورو خلکو د کډو په بارولو پيل وکړ، څوک يو خوا او څوک بلخوا تيت او پرک شول. هرې خوا زورونې، چور، چپاول او وژنو زور واخيست. کابل يې په مرميو سوری، سوری کړ. د خلکو د هوسا ژوند هوساينه يې ليلام کړه، کابل ته يې اور ورته کړ.

دوی لا ښکرونه همداسې سره ورکړي وو، چې طالبان را وزېږېدل. د کابل قاتلين يې پسې وزغلول. څوک ترکيې، څوک، پاکستان، څوک ايران او څوک يې تر کولابه پرېښودل. طالبانو امنيت راوست، ډېری ښوونځي يې رخصت کړل، د زور لمونځونه يې پيل کړل. په هر سړي ګيره جبري شوه، د نړۍ يې افغانستان يو کونج ته کړ او اقتصاد د غروب په لورې کلک او چټک مزل پيل کړ.

ما هم لاسې ګاډۍ ته زور ورکړ. کله به چې د شپې کور ته راتلم د وچې ډوډۍ پيسې به مې حلالې کړې وې.

ناڅاپه په اسمان کې د دېوانو په شان غتې، غتې الوتکې راپيدا شوې، چې طالبان يې د هېواده ورک کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د کرزي پاچاهي ده. همغه درز او دروز دی، اوس هم د ښار په کوڅو کې هره شېبه خلک له دې وېرېږي چې اوس به کوم موټربم درز وهي او سا به راځخه اخلي. اوس هم همغه د روس‌پلوه او مجاهدینو په ډول کټه مټه جګړه روانه ده.

زما د لاس ګاډۍ په یوه وړه د سبزیو خرڅولو په غرفه بدله شوې، وچه ډوډۍ او الوګان رارسېږي، خو زړه مې په دې ویجاړ هېواد دردېږي، ژړاوې پرې کاندي، ویر کوي او د تل لپاره ویرنې لیکي.

تر څو به د افغان په لاس افغان ټاټوبی پرهر پرهر کېږي، کله به د افغان په سر کې د هېواد مینه په ولولو کېږي، کله به موږ د خپل وطن غېږې ته د مور مینه ورکوو، او کله به (موږ غیرتیان یو) اصطلاح په عمل کې پلې کوو؟

(د یوه او د هر افغان کیسه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۷)

# د بې شرمو کلی

له ډېر اوږده سفر وروسته په يوه خړه پړه سيمه ورپيښ شوم. سترګې مې د اوبو او سيورې په لټولو بوختې وې، چې تنکي ځوانکي راباندې غږ کړ، کاکا چيرې روان يې؟

څېرې ته يې ځير شوم...

ځوانکي وچې شونډې يېلې پښې، ببر سر او شليدلی ګرېوان درلود، له سترګو يې زر زر ګرد او خاورې په لستوڼي لېرې کولې يو ځل يې بيا غږ کړ، کاکا مسافر يې؟

- هو بچيه مسافر يم.

- چيرې ځې؟

- ګورم که کومه چينه يا وياله پيدا کړم، چې لږ دمه پرې جوړه کړم.

- راځه راځه د هغې پرخې لاندې چينه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا راته مخکې شو او زه ورپسې شوم، چې ګورم، له هغه لوري د کلي خلکو يو په ونه جيګ، تک تور، غټ شونډی سړی په ډولۍ کې کېنولی دی او دوی ورپسې، ژوندی دوي، دوست محمد خان سورې وهي. ښځې په ديوالونو ور ولاړې دي، ماشومان يې تر شا منډې وهي، ښکلي، ښکلي ځوانان، را منډه کړي يو د ډولۍ لرګی ونيسي او بل خپل مټ ورکړي، تر څو دوست محمد خان ته وښيي چې زه تا ته ډېر وفادار يم.

ځوانکي څخه مې وپوښتل دا څوک دی او دا خلک ولې ورته خوشاله دي؟

ژړکي مخ راواړاوه، ويې وې:

- کاکا دغې سړي د همدې کلي له خلکو څخه تر پنځوسو ډېر ځوانان مړه کړي، کورونه يې ور چور کړي دي، د دوی څخه يې ښکلې پېغلې په زور واده کړي دي.

نو دوی بايد د داسې بدبخته انسانه کرکه وکړي.

هو په همداسې خلکو داسې فتنه‌ګر خدای مسلط کړی دی يو بل سره جوړ دي، ښه خوشاله دي او د اوږد ژوند لپاره ورته دعاوې کوي.

- ښه نو دا کوم ځای دی، دا کلی څه نوميږي؟

- دا کلی د بې شرمو کلي په نوم يادېږي.

- ښه زويه زه به له دې کلي وځم. داسې نه څوک کالي راڅخه وباسي، چې همدا يو شرم راپاتې دی، خدای په امان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۸)

## د هندارو ښار

وايي په دې ښار کې هندارې خرڅيږي، راځه په هغه لار لاړ شو. ما وې نه په همدې ښار ور ننوځو.

عجيب سړی يې ټول په يو او بل لوري ترې تيريږي ته پرې ورځې؟

هغوی يې د بلاوو ډاريږي، پر ما او تا بلاوې اثر ځکه نه کړي چې رب[ج] مو تل حاضر او ناظر گرځولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لنډ ژوندليک

جمال ناصر اصولي د نوروز خان اصولي زوی پر ۱۳۵۹ل کال د خوست ولايت تڼيو ولسوالۍ دره ګي کلي کې زېږېدلی دی.

ښوونځی يې د کابل په عبدالهادي داوي لېسه او فراغت يې د خوست غرغښت عالي ليسې څخه دی.

ليسانس يې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي پښتو څانګه کې کړی او له همدې ځايه يې د ماسترۍ سند هم تر لاسه کړی دی.

ښاغلي اصولي په خصوصي او دولتي ارګانونو کې په لوړو بستونو کار کړی دی، د نوې ځوانۍ پېر يې په روسيه او انګلستان کې تېر کړی او د نړۍ اته دېرش هېوادونو ته يې سفرونه کړي دي.

د شاعرۍ تر څنګ ليکوالي او سياسي شننې هم کاندي چې ډېر کله د هېواد په ټلوېزيونونو کې د هېواد په سياسي حالاتو د شنونکي په توګه را څرګندېږي...

تر دې کتاب وړاندې د ښاغلي اصولي درې نور اثار هم د چاپ په پساله پسولل شوي چې يو يې (سياسي جګړې) د ښاغلي اصولي مرکې او شننې دي، بله يې لومړۍ شعري ټولګه ده چې (د پردېسۍ تروږمي) نومېږي، بل چاپ شوی اثر يې دويمه شعري ټولګه (درد) نومېږي او دا يې هم څلورم چاپي اثر (ادبي رنګينه) ده چې ستاسې درنو لوستونکيو په لاسونو کې ده.

سپين سهار

دانش خپرنځی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**